# ښځه او ټولنه



Ketabton.com

راټولونکی : واحدالله ؛پاخون؛

۱۳۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړليک

لومړی څپرکی ---------------------------------------------------------- ---------------- ۱
ښځه څوک ده ---------------------------------------------------------------- --------------- ۱
ښځه الله د څه لپاره پیدا کړې ده --------- ------- ------------------------------------------------- ۲
د ښځې په اړه د پوهانو او څېړونکیو نظر ------------------------------------------------------- ۳
دوهم څپرکی ------------------------------------------------------- ------------------------- ۴
ښځه د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کې ------------------------------------------------------ ۴
په یونان کې ----------------------------------- ---------------------------------------------- ۵
اوسني دورې ---------------------------------------------------------------- --------------- ۵
په روم کې ------------------------------------------------------------------------------------ ۵
په مصر کې ---------------------------------------------------------------- ---------------- ۶
په هند کې ------------------------------------------------------------------------------------ ۶
د عربو په جاهلیت کې -------------------------------------------------------------------- ۷
په امریکا کې ------------------------------------------------------------------------------- ۸
په فرانسه کې ------------------------------------------------------------- -------------- ۹
په نورو اروپا کې ------ ---------------------------------------------------------------- ۱۰
درېم څپرکی ------------------------------------------------------------------------------ ۱۰
ښځه په بېلا بېلو مذهبونو کې ---- ------------------------------------------------------- ۱۰
په یهودیت کې ---- ----------------------------------------------------------------------- ۱۰
په مسیحیت کې ------------ --------------------------------------------------------------- ۱۰
ښځه په اسلام کې ---------------------------------------------------------------------- ۱۱
په اسلام کې د ښځو مقام ------------------------------------------------------------ ۱۲
د ښځو اوچت مقام قرانکریم په رڼا کې ------------------------------------------------ ۱۳
د ښځو اوچت مقام د نبوي احادیثو په رڼا کې ----- ------------------------------------------ ۱۴
د ښځې حقوق په اسلام کې ------------------------------------------------------------ ۱۶
اقتصادي حقوق ---------------------------- -------------------------------------------------- ۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي حقوق ---------- ۱۷
ټولنیز حقوق ---------- ۱۷
د زده کړې حق ---------- ۱۷
د کار کولو حق ---------- ۱۹
پر خاوند د ښځې حقوق ---------- ۱۹
مادي حقوق ---------- ۱۹
د مهر حق ---------- ۲۱
د نفقې حق ---------- ۲۱
معنوي حقوق ---------- ۲۱
ښه چلند ---------- ۲۱
د ښځې د حیثیت او شرافت خوندیتوب ---------- ۲۱
د میرمنې د جنسي غریزې پوره کول ---------- ۲۱
د دین تعلیم او عبادت ته هڅول ---------- ۲۱
د ښځو د وړو تیروتنو سترګې پټول ---------- ۲۱
له نا مشروع وهلو څخه ځان ساتل ---------- ۲۱
د ښځې د عیبونه او رازونه پټول ---------- ۲۱
د خپلې مېرمنې په اړه نیک نظر درلودل ---------- ۲۲
په اسلام کې د نارینه او ښځې اړیکې ---------- ۲۲
څلورم څپرکی ---------- ۲۳
ښځه په افغانسان کې ---------- ۲۳
افغان میرمنې ---------- ۲۳
د افغان ښځو شورا ---------- ۲۶
د مجاهدینو او طالبانو دوره ---------- ۲۷
چادرې ---------- ۲۷
21 پیړۍ ---------- ۲۹
سیاست او کارې ځواک ---------- ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغان ملي پولیسو ښځینه افسران ---------------------------------------------------- ۳۱
زده کړې ---------------------------------------------------------------------------- ۳۲
ورزش ------------------------------------------------------------------------------- ۳۵
واده او پلارونه ----------------------------------------------------------------------- ۳۵
د ښځو حقوق په اساسي قانون ------------------------------------------------------- ۳۶
د ښځو سیاسي حقوق --------------------------------------------------------------- ۳۶
د بیان ازادۍ حق --------------------------------------------------------------------- ۳۶
د انتخابېدلو او انتخابولو حق -------------------------------------------------------- ۳۶
سیاسي ګوندونو جوړولو حق --------------------------------------------------------- ۳۶
د مدني ټولنو جوړولو حق ------------------------------------------------------------ ۳۶
سوله یزې مظاهرې کولو حق ---------------------------------------------------------- ۳۶
د دولت څخه د پوښتنې کولو حق ------------------------------------------------------ ۳۷
صحي حدماتو ته د لاس رسي حق ------------------------------------------------------ ۳۷
اقتصادي حقوق ----------------------------------------------------------------------- ۳۷
ټولنیز حقوق -------------------------------------------------------------------------- ۳۷
د تعلیم حق ---------------------------------------------------------------------------- ۳۷
د کار حق ------------------------------------------------------------------------------ ۳۸
افغانه ښځه په تېرو ۱۰ کلونو کې ------------------------------------------------------ ۳۸
پنځم څپرکی -------------------------------------------------------------------------- ۳۹
ښځه او تعلیم ------------------------------------------------------------------------- ۳۹
د ښځو تعلیم د اسلام له نظره -------------------------------------------------------- ۳۹
د نجونو تعلیم ------------------------------------------------------------------------ ۴۱
د ښځو د تعلیم پر وړاندې ټولنیزې نظرونه ---------------------------------------------- ۴۲
مخالف -------------------------------------------------------------------------------- ۴۲
موافق --------------------------------------------------------------------------------- ۴۳
د ښځو د زده کړې پر وړاندې ستونزې ---------------------------------------------------- ۴۳
امنیتي ستونزې ------------------------------------------------------------------------ ۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي ستونزې ---------------------------------------------------------------------------- ۴۳
اجتماعي ستونزې ---------------------------------------------------------------------------- ۴۴
د ښځو پر وړاندې د اسلامي زده کړو ناسم پوهاوی ------------------------------------------------ ۴۴
محیطي ستونزې ------------------------------------------------------------------------------ ۴۴
د والدینو له لورې مخه نیول ----------------------------------------------------------------- ۴۵
د مکاتبو نه شتون ---------------------------------------------------------------------------- ۴۵
ښځینه ښوونکو نه شتون ---------------------------------------------------------------------- ۴۵
د ادارې او استادانو نه پاملرنه ------------------------------------------------------------------ ۴۵
لازمو اسانتیاو کمښت ------------------------------------------------------------------------ ۴۶
شپږم څپرکی -------------------------------------------------------------------------------- ۴۶
ښځه او کار ---------------------------------------------------------------------------------- ۴۶
په اسلام کې د ښځو د کار کولو حکم ------------------------------------------------------------ ۴۶
کومو لاملونو ښځه کار ته وتلو ته اړه کړله ------------------------------------------------------ ۴۸
الف : د ښځې د کار ګټې ------------------------------------------------------------------- ۴۸
کارته د ښځې د وتلو زیانونه ------------------------------------------------------------------ ۴۹
اووم څپرکی --------------------------------------------------------------------------------- ۵۰
ښځه او سیاست ------------------------------------------------------------------------------ ۵۰
په انتخاباتو کې د ښځو ونډه ------------------------------------------------------------------ ۵۱
اتم څپرکی ----------------------------------------------------------------------------------- ۵۱
ښځه او ټولنه ------------------------------------------------------------------------------- ۵۱
د ښځې مقام په ټولنه کې --------------------------------------------------------------------- ۵۲
د ښځې رول په ټولنه کې --------------------------------------------------------------------- ۵۳
لور که زوی ---------------------------------------------------------------------------------- ۵۳
افغانه نجلۍ، ټولنه او دهغې له ستونزو ډک ژوند ----------------------------------------------- ۵۴
افغانه نجلۍ او ټولنه ------------------------------------------------------------------------- ۵۴
افغانه نجلۍ او زدکړې ------------------------------------------------------------------------ ۵۵
افغانه نجلۍ او په ناخوښه توګه یې واده ---------------------------------------------------------- ۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


افغانه نجلۍ او د هغې سره کورنۍ تاو تریخوالی ---------------------------------------- ۵۶

په بدو کې ورکړه ------------------------------------------------------------ ۵۶

ښځه په پښتني ټولنه کې ------------------------------------------------------ ۵۷

د ښځو حقوق څوک تر پښو لاندې کوي ------------------------------------------ ۵۸

د امیدوارو مېرمنو سره باید څنګه چلند وشي ----------------------------------------- ۶۱

د ښځې او نارینه ترمن توپیرونه ------------------------------------------------ ۶۳

بیولوژیکي توپیرونه ----------------------------------------------------------- ۶۳

سیکلوژیکي توپیرونه ---------------------------------------------------------- ۶۵

فزیولوژیکي توپیرونه ---------------------------------------------------------- ۶۵

نهم څپرکی ------------------------------------------------------------------ ۶۶

ناوړه دودونه ---------------------------------------------------------------- ۶۶

ولور ----------------------------------------------------------------------- ۶۶

د بدل ودونه ----------------------------------------------------------------- ۶۷

پایلې ---------------------------------------------------------------------- ۶۷

په بدو کې ورکول ------------------------------------------------------------- ۶۸

پایلې ---------------------------------------------------------------------- ۶۸

د ملاتړ پیدا کولو په خاطر ودونه ---------------------------------------------- ۶۸

لسم څپرکی ------------------------------------------------------------------ ۶۹

ښځه او تاوتریخوالی ---------------------------------------------------------- ۶۹

د تاوتریخوالي لاملونه --------------------------------------------------------- ۶۹

د تاوتریخوالي ډولونه --------------------------------------------------------- ۷۰

فزیکي تاوتریخوالی ----------------------------------------------------------- ۷۰

جنسي تاتریخوالی ------------------------------------------------------------ ۷۱

ژبني او روایي تاتریخوالی ----------------------------------------------------- ۷۱

ټولنیز تاتریخوالی ------------------------------------------------------------ ۷۱

پایلې ---------------------------------------------------------------------- ۷۱

کورنی تاوتریخوالی او پر دماغو یې اغیزې ---------------------------------------- ۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

یولسم څپرکی --------------------------------------------------- ------------------------------- ۷۲
د کور دېوالونه دچا لپاره -------------------------------------------------------------------- ۷۲
مونږ په کومه پېړۍ کې اوسيږو ------------------------------------------------------------ ۷۳
ماخذونه ---------------------------------------------------------------------------------- ۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا کتاب زه خپل ګران پلارجان ته ډالۍ کوم ، چې ماسره یې زیار ویستلی دی او زه یې دې مقام ته رسولی یم .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

دا کتاب ما د یو احساس له مخې لیکلی دی ، زمونږه په ټولنه کې د ډېره وخته راهیسي د ښځو حقوق ،ونډې،او حیثیت د پښو لاندې شوي دي .

ما وغوښتل چې په دې اړه یو کتاب ولیکم ، که کومه سهوا خطاء له مانه شوې وي ماته راپه ګوته کړئ .

د دې کتاب ټول موضوعات د معتبرو کتابو څخه رانقل شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## لومړی څپرکی

### ښځه څوک ده؟

ښځـــــه چي مور وي، نـــو ښکار ده چي جنت ده ښځه

ښځـــــه چي لـــورشي، نـــو وريـــږي دې رحمت ده ښځه

ښځه چې خور وي، نو نعمت دی ورو بې خوره مه شه

ښځـــه رونـــق د زنـــد ګـي ده او زيـــنت ده ښـــځـــه

ښځـــه مـــلاله ده ، نــــــــازوده ، ناهـــيده ده دوخت

ښځــــــه ډګــــــر د حـــــماسو ده او عظمت ده ښځـــه

د ژونـــد پايـــښت ، دژوند بقا ، د انسانيـت فلسفـــه

په دې نــــړۍ کې ستره بـــــيلګه د فطرت ده ښځـــه

ښځـــــه هستي ،ښځـــــه ښکلا ده، د تهذيـــــب نـښه ده

دانـــشه! تـــوله مـينه ميـــنه ده الفــــت ده ښـــځــــه

دانـــش

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ښځې نوم د عربي له (نساء ) څخه اخسیتل شوی دی ،چې د هغه شي په مانا دی چې په لیدو یې سړی شرمیږي. د ښځې یو بل نوم مینه او اغیزه ده ،د انسان لومړنی ښونځی همده دی.

هر څه ځانته ښکلا لري، خو د بشر ښایست د هیڅ ښایست او ښکلا سره ورته نه دی. د الله عزوجل په دې ښایسته خلقت کښې، ښځه د بشري تاریخ په اوږدو کې، د بشریت تر ټولو مظلومه طبقه ده، لطیفه، نازکه او د احساس څښتنه پیده کړې ده.

جالبه ده! نن هغوی د ښځې د عزت او احترام خبري کوي چې د حیواناتو غوندي کار ځني اخلي؛ بې حجابه ئې ټولني ته وړاندي کوي، او د جنسي الي (Sex Machine) په سترګه ورته ګوري او په رنګا رنګ ډرامو کې یې غولوي.

ښځې د اسلام تر ظهور وړاندي په عربو کې ژوندی ښخې کړای شوې، تر هغه وړاندي بیا ورته د پخواني چین په قانون کې ذکر شوې وه چې ښځه د نړی پر مخ تر ټولو بې ارزښته موجود دی، رومیانو ورته د نا اهله لقب ورکړی ؤ، او تر دې لا سپکه او حقیره ګڼل کیده چې په پنځمه پیړی کې مسیحانو پر دې خبره بحث کاوه چې ایا ښځه د نارینه په څیر روح لرونکی جسم دی او که نه؟

خو په اوومه میلادي پیړیَ کې (۱۴۵۰ کاله مخکې) د اسلام د ظهور سره ښځې ته عزتا او احترام ورکول شو، ښځه یې د نارینه اړتیا و بلله، هغه یې د ژوند په پرمختګ کې د نارینه سره شریکه کړه، او نارینه ته یې دا په ډاګه کړه چې ښځه که له یوې خوا د ټولني نیمه برخه ده خو له بلې خوا د خاوند لپاره ارام، ډاډ، خوښې او تسکین راوړونکې ده.

نارینه ئې په دې مامور کړ چې ښځې ستاسې لوی حمایت دی او د نارینه د کړیدو پر مهال یې د هغه لپاره امسا وبلل. الله په قران کریم کې فرمایي:

(هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ. )(سورة البقره:۱۸۷)

ژباړه: (هغوی ستاسې جامه ده او تاسې د هغوی جامه یاست.)

ښځه د الله جل جلاله نرم خلقت دی.

د ماشوم لپاره فرشته ده

د خاوند لپاره لباس ده.

ښځه د سکون سمبول ده.

د عزت خاونده او د زانګو ستره استاده ده.

کوم چي نن په خپلو لاسونو د سبا امپراتور، عالم او یو لوی انسان زنګوي.

ښځه ...

کله چي لور وي، پلار ته د جنت دروازه خلاصوي. (حدیث)

کله چي مېرمن سي نو د خاوند ایمان تکمیلوي. (حدیث)

او کله چي مور سي نو تر پښنو لاندي یي جنت پیدا کیږي. (حدیث)

همدا هغه ستر اعزاز دی چي اسلام ښځي ته ۱۴۵۰ کاله مخکي عطاء کړی دی!

## ښځه الله د څه لپاره پیدا کړې ده

په سورت بقره کې الله فرمائي : (انی جاعل فی الارض خلیفه )

ژباړه:( زه پیداکونکی یم په ځمکه کې یو خلیفه) چې د الله احکام په سرزمین باندې خپاره کړي

بل ځای کې الله فرمائي: (ما نه دي پیداکړي انسانان او پیریان مګر د خپل عبادت لپاره )(سورت ).بل دا چې الله پاک ښځه د انسانیت د سلسلې د قایم ساتلو لپاره پیداکړې ده ، که ښځه نه وی دا سلسله مخه ته نشوی تلی، او سړی نه وی نو بیا هم دا سلسله مخه نه تله. الله فرمائي( هن لباس لکم وانتم لباس لهن) ښځه د سړي او د ښځې لپاره لباس دی(سورت بقره ۱۸۷ )،ښځه او سړی یو جسم دی.

کله چي الله جل جلاله آدم علیه السلام پیدا کړ، جنت ته یې ولیږئ ، په جنت کې یوازې ګرځېدئ ، الله جل جلاله دده علیه السلام د ارام او سکون لپاره بې بې حوا پیدا کړه، یو خو دا چې انسانیت دا سلسله راونه وي او بل دا چې د ادم علیه سلام سوکالي او ارام په کې وه.

الله په قرانکریم کې فرمائي:(یَا أَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّکُمُ الَّذِي خَلَقَکُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً کَثِیرًا وَنِسَاء.)

ژباړه (ای خلقو ! وویریږئ له ربه خپله ! هغه (رب) چه پیدائې کړئ تاسی له نفسه یوه نه او پیدائې کړه له دی جوړه او خپاره (خواره) ئی کړل له دی دواړو څخه سړي (ډیر) او ښځې( ډیرې)) (سورت نساء_ اول ایت)

الله په قرانکریم کې فرمائي: (هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ )

ژباړه: ( الله پاک هغه ذات دی چې ، پيداکړي تاسو لره،د تاسو د نفسونو نه جوړې د دې لپاره چې تاسو ارام وکړی د دې تر څنګ.) (اعراف_ ۱۸۹)

د ښځې پیداینت د الله لوی نعمت دی، کله چې سړی مزدوری ته لار شي نو چې کله سټړی ستومانه کور ته راشي او خپله بې بې وګوري او ورسره کېني نو ارام شي.

## د ښځې په اړه د پوهانو نظرونه:

د ځینو په فکرښځې ته له سپوږمۍ څخه ښکلا، د سمندرله موجونه څخه حرکت، له ستوريو څخه ځلا، له لمر څخه تودوخه، له شبنمه څخه رطوبت ، له ګلاب څخه رنګینی ، له شاتو څخه خوند او خوږوالی، د قمری غږ او د پاک دامنې حیا ورکړئ شوې ده.

ښځه د کایناتو تر ټولو ښکلې او د راحت او هوساینې اوچته سرچينه ده، د انسان انسانیت همدې پورې تړلې دی، د شنه اسمان ستورې ده، نه موندل کیدونکی او بې بها ګوهر دی، د محبت خزانه ده، د ښایست او د محبت سپیلنیا ده، د رویه ګل وږمه ، د بې قراره نظر تسکین، د ژوندانه ملکه، د پسرلي بدن، د حیا څادر، د لویې زیرمه، د درد دارو، او داسې راپنځیدلی پیداوښت دی چې په واند او تصویر کې یې سړي ته ټوله نړی ښکاري. (پیکر)

د نادرشاه وینا ده: ماته په ښځه او ګل کې توپير نه لیدل کړي.

چارلس ډاکتروایې: په کایناتو کې تر ښځې خوږ او نازکه شی بل نه شته، او تر ټولو نه خوږه او ښکلې مینه د ښځې مینه وي.

ښځه د سمندر په شان ده، چې د ډېر کوچني فشار په وړاندې طاقت نه شي کولای، خو ډېر درانده بارونه وړي.( رایموس نیس ) جنسي لاربنود او لوڅ رازونه (۴صفحه)

ښځه هغه غوټۍ ده، چې د غونچې په وخت کې د خوښېدو وړ ده، د غوړېدو په وخت کې د مینې او محبت وړ ده، او کله یې چې ګلان مړاوي شي د درناوي وړ ده . ( اره تسن )

اې ښځې ! ته هغه څوک یې چې غواړم خپل ټول شته ستا په پښو کې کېږدم . ( شکسپیر )

ښځه د میاشتې په شان ده، چې پاس په آسمان کې په خپلواک ډول ګرځي او هر ځای ته چې ځي طبیعت ته خپله روښنایي وربښي . ( پوشکین )

که نر سترګه ده، نو ښځه یې بینایي ده، او که نر ګل دی، نو ښځه یې بوی دی . ( سقراط )

ښځه هېڅکله نه وایي، چې له تاسره مینه لرم، کله چې له تا پوښتنه وکړي، له ما سره مینه لرې ، نو پوه شه، چې په زړه کې یې ځای لرې . ( لارو شفوکو )

په کوم کور کې چې ښځه نه وي، هلته د نېکمرغۍ پرښته قدم نه ږدي . ( اسکندر کبیر )

سړي د شهوت په سوچ ویده کېږي او ښځې د مینې په خیال را ویښېږي . ( آل آل تنیسون )

که نر او ښځه یو ډول روزل کېدی، نو ځواک به یې یو شان و . ( مونتسکیو )

که ښځې د ټولنې قوانین تر پښو لاندې کوي، پروا نه شته، ځکه چې دا قوانین نرانو لیکلي دي .( مونتن )
په نړۍ کې دوه شیان ښکلي دي : ښځه او ګل .  ( مالرب )

ښه ښځه هغه کلکه امسا ده، چې مېړه د ژوندانه په کړلېچونو کې تکیا پرې وکړي او په بدمرغۍ او بېوزلۍ کې یې له مینې او غمخورۍ نه ډاډ تر لاسه کړي . ( اسمایلز )

## ماخذونه:

جنسي لارښود او لوڅ رازونه(۳ صفحه)

تعلیم الاسلام ویب- ښځه څوک ده

جنسي لارښود او لوڅ رازونه(۴ صفحه)

## دوهم څیرکی

### ښځه د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کې:

مخکې له دې چې د اسلام په رڼا کې د ښځې مقام تشریح کړو، لږ به ( د اسلام څخه مخکې ) د ښځې مقام او حیثیت مطالعه کړو.

### په یونان کې

په پخوانیو قومونو کې یونان پرمختللی قوم و، مګر په دې قوم کې ښځې هیڅ حیثیت درلود.

په یونان کې به ښځه د انساني ټولو بدبختیو بنیاد ګڼلی شوه، د یونانیانو په نظر کې ښځه د ټیټې پوړۍ مخلوق و.

د تهذیب او کار له پرمختګ سره ښځې هم لږ پرمختګ وکړ، مګر ورو ورو په یونانیانو کې بیا شهوت غلبه وکړله په دې وخت کې بدلمنو ښځو دومره پرمختګ وکړ چې په انساني تاریخ کې ساری نه لري او د هر فن خاوندان به له دوی څخه راتاوو.

په یونان کې ښکلا پالنې او د ښکلا ذوق دومره غلبه وکړله چې بلکل خپل ځان ورځنې هیر شو ، لویو فیلسوفانو او پوهانو به زنا څه عیب نه بلله ، نکاح پکې غیرې ضروري وګنل شوه، له نکاح څخه پرته یو ځای کیدل څه د شرم خبره نه وه، د کام دیوي لمانځنه په ټول یونان کې رواج شوه (کام دیوي د دیوتا ښځه وه، مګر بیایې هم له نورو دریو دیوتاګانو سره آشنایي درلوده، او د هغې په دربار کې د هر چا غوښتنې پوره کیدلې تر دې چې حرامي کیوپډ پیدا شو او بیا دې قوم دیته د معبود درجه ورکړله ) فاحشه خانې پر عبادتخانو بدلې شوې ، د نکاح اهمیت له منځه لاړ، په همدې ترتیب ښځې خپل اصالت له لاسه ورکړ.

په یونان کې به ښځې د ښارویو او نورو ملکیتونو په څیر پلورل کیدلې ،د یونانیونو یو استازی وایي چې موږ لوڅې ښځې د خوند او صادقې او مهربانه ښځې د جسم د نورو غوښتنو د تامین لپاره غوره کوو .

**اوسني دورې**

په تیرو لسیزو کې، په یوناني ټولنه کې د ښځو موقف په ډراماتیک ډول بدلون موندلی دی. افریس پیټریډو په یونان کې لومړۍ ښځینه وکیل وه؛ په 1925 کې هغې د ایتینس بار ټولنې سره یوځای شو. په 1955 کې، ښځې لومړنۍ اجازه درلوده چې په یونان کې قاضیان شي. په 1983 کې، د کورنۍ نوی قانون تصویب شو، کوم چې د جندر مساوات په واده کې ورکړ شوی.

**په روم کې**

په روم کې ښځو ته د ځاروي په سترګو کتلی شول ، دلته د لوړ کچ یوې غونډې فیصله وکړله چې ښځه ناولی حیوان دی چې نه کرامت لري ، نه عزت او نه درنښت د هغوی سپک ساتل پکار دي او خدمت لپاره یې استعمالوئ .

دلته سړی د ښځو بادارو ، په خپلو ښځو او اولادونو یې پوره مالکانه حقوق درلودل ، آن په ځینو حالانو کې یې د هغوی د وژلو اختیارات هم درلودل خو کله چې په روم کې عملي مدنیت خپور شو نو ښځو هم څه دمه وکړه ، اوس هم پردې دود ونه او فاحشه خانې وې مګر عفت او پاکئ ته په درنه سترګه کتل.

یو ځل یو رومي سناتور د خپلې لور په مخکې خپله ښځه ښکل کړله د ده دا کار د ملي اخلاقو سپکاوی وګڼل شو او په ملي شوره کې پرې د ملامتئ غږ وشو مګر د غربي او شوقي تهذیب او تمدن له پرمختګ سره د رومي قوم په افکارو کې هم د ښځو په هکله بدلون راغی او ورو ورو د نکاح او طلاق په قوانینو کې دومره تغیر راغی چې حالات بلکل سرچپه شول . ښځو به خاندانو ته پورونه ورکول ، خاوندان به د ښځو مرئیان وو، په وړه خبره هم طلاق ورکول کیده، په دې دور کې به ښځو پرله پسې میړونه کول .

آزاده عشق بازي څه د شرم او عیب خبره نه وه ، ښځو او نرانو به یو ځای او لوڅ لامبل . ښځو خو انساني حقوق بلکل نه لرل، حتی د روم رسمي قانون هم ښځه نا اهله بلله، او د اهلیت د نه درلودلو په اسبابو کې یې ښځه توب هم مهم لامل باله، یعني یوازې نارینه یې اهل بلل . ښځه او اسلام (۱۳-۱۴ صفحه)

**په مصر کې**

په مصر کې ښځو ځان د خاوندانو وينځې ګڼلې د هغوی خدمت به يې په دې ډول کاوه لکه چې وينځه د خپل بادار خدمت کوي ، هغوی هيڅ ډول آزادي نه درلودله او خاوندان د هغوی معبودان ګڼلی شول .

په مصر کې يو وخت د شهوت جذبه دې حد ته رسېدلې وه چې د مصر فرعون به هلکان وژل او نجونې به يې د خپل خدمت او د خپل شهوت د پوره کولو لپاره ژوندی پرېښودلې .

الله ج پر بني اسرائيلو د احسان په ډول د دې واقعې يادونه څو ځلې کړې ده الله فرمايي : (و اذنجيناکم من آل فرعون يسومونکم سوء العذاب يذبحون ابناء کم و يستحيون نسائکم ) (سورت بقره ۴۹ايت)

ژباړه: (او ياد کړئ هغه وخت چې خلاص مو کړئ د فرعون له خلکو څخه چې در رسولو به يې تاسي ته لوی عذاب ، ذبحه کول به يې ستاسي زامن ژوندئ به يې پرېښودلې ستاسو ښځې ) په مصر کې د ښځو رول په ټول تاريخ کې بدلون راوړی دی .

په مصر کې ښځې خورا بېوزلې دي، په 2013 کې، مصر د ښځو لپاره د عربي نړۍ ترټولو بدترين هيواد ګڼل شوی.

**په هند کې**

په هند کې هم د ښځو هغه حال و کوم چې په روم او يونان کې و .

دلته به کله سړيو د ښځو عبادت کاوه او کله به ښځو د سړيو عبادت کاوه ، فاحشه خانې په عبادتخانو بدلې شولې . په هند کې د ښځو پر مخ د تعليم دروازې وتړل شوې او داسې په سپکه سترګه به ورته کتل کېدل چې له ښځو سره اړيکو لرونکيو کسانو لپاره يې د نجات او خلاصون دروازې تړلې وې، د هندوانو پنډاتانو داسې ويل چې انسان نشي کولای چې علم حاصل کړي تر څو چې له خپل کورنۍ سره اړيکې برې نه کړي .

په سند ( د پخواني هند په يوه برخه ) کې له اسلام څخه د مخه ښځه بلکل بې عزته وې کله به يې چې مېړه مړ شو او سوځاوه به يې دا يې هم ورسره سوځوله ، که دې به انکار وکړ رټل کېدله ، بد اخلاقه به ګڼل کېدله ، هرچا به ورته د غدارۍ او بې وفا په سترګه کتل، او بيا به ورسره هيچا نکاح نه کوله، او د همېش لپاره به له خاوند او زوجيت څخه بې برخې وه ، زنا په عام رواج وه .

د نکاح او کورنۍ ستومانتيا هيڅا پر اوږه نه اخېستله اوس هم په هند کې ښځه د ټولنې سپکه او ذليله برخه ده، هيڅوک ورته د قدر په سترګه نه ګوري ، په مختلفو پلمو وژل کيږي .

د هند پارلمان ته د يو ورسپارل شوي سند له مخې د ۱۹۸۸ـ۱۹۹۱ ميلادي کلونو تر منځه په هند کې (۱۵۸۹۱) ښځې د واده د جهيز د نشتوالي له کبله وژل شوي دي او يايې دخلکو د پيغور پر اساس ځان وژلی دی .

وګورئ چې د واده  د جهيز د نتشوالي په معمولي وړه خبره څومره ښځې وژل شوي دي دا دی مساوات ؟ دا دی د ښځو حقوق او آزادي ، اوس هم د پخواني جاهليت په څير په هند کې د نويو انجونو د وژلو لړۍ ښه توده روانه ده .

او په بېلا بېلا پلمو هر کال زرګونه ښځې ځانونه وژني د نوای وقت ورځپاڼې د ۱۹۹۹ کال ګڼې د يو خبر له مخې ، تيره ورځ جهيز د نشتوالي له کبله په هند کې د يوې کورنۍ ۱۷ پېغلو يو ځای او په يوه ورځ ځان وواژه .

**د عربو په جاهليت کې**

په عربو کې له اسلام څخه وړاندې د جاهليت په زمانه کې، چې د چا په کور کې به انجلۍ وشوه هغه به يې ژوندۍ ښخواله ، د لور په پيدا کېدلو به شرمېدل ، د چا په کور کې به انجلۍ پيدا شوله هغه ورځ به په کور قيامت وو، د دوی د دې باطلې عقيدې د له منځه وړلو په غرض الله ج قرمايي : (الله ملک السموات والارض يخلق مايشاء يجعل من يشاء عقيما انه عليما قديرا )

ژباړه: (الله لره دی حکومت په اسمانو کې او په ځمکه کې، پيدا کوي څه چې وغواړي ، بخښي چاته چې وغواړي، لونې ورکوي چاته وغواړي، زامن ورکوي چاته چې وغواړي، جوړه زامن او لونې ورکوي چاته چې وغواړي، بېشکه خدای ج پوه او قادر دی پر هر څه .)

دلته الله ج لومړی ياد د انجونو وکړ او هلکان يې وروسته ذکر کړي معارف القران د قرطبي په حواله د واثله بن اسقع قول راوړی چې د کومې ښځې له ګېډې څخه لومړی لور پيدا شي هغه مبارکه وي .

الله ج فرمايي ، چې د لور او زوی ورکول زما په اختيار کې دي، تاسو په هر حال شاکرګذار اوسئ ، او د لور په زېږېدلو مه خفه کيږئ .

په جاهليت کې په ښځو داسې ظلم کېده چې حتی هغوی ته انسان په سترګه نه کتل کېدل ، هغه وخت به ښځولوڅ او بربنډ د بيت الله طواف کاوه .

بربنډ ګرځېدل د شرم خبره نه وه ، د منافقينو د رئيس عبدالله ابن ابی ابن سلول شپږ وينځې وې چې ږ هغوی لپاره يې سرايونه جوړ کړي وو ، او هغوی يی زنا ته اړ ويستلې ، وهلي به يې او له هغوی څخه به يې دومره ډېرې پيسې وغوښتې چې هغوی به يې له ورکولو څخه عاجزې وې او نا چاره به وې چې بد کاري وکړي .

هلته د هر رئيس همدا حال و ، ښکاره سرايونو به و او د بېرغ په څېر ټوټې به پرې زوړندې وې هر چا به پېژندل چې دا د زنا او بد کارئ ځايونه دي .

د مېلمنو لپاره به د قدر، درناوي او احترام په غرض انجونې وروړاندې کولې، چې زنا به يې ورسره کوله.

لنډه دا چې په جاهليت کې له ښځو سره ظلم خپل وروستئ پوړی ته رسېدلی و، په عربو کې به انجلۍ دومره بده ګڼل کېدله چې هغه به يې ژوندۍ ښخوله، په هغوی کې بلکل عام رواج و او په دې به يې وياړ کاوه ، د خسر او اوښي نوم له ښکنځلې څخه کم نه و، کله به چې چا کره لورپيدا شوه دومره به خفه و چې ګويا غټ غم پرې راغلی دی، قران د دوی د دې جاهلېت او ناوړه عنعنې حکايت داسې کوي (و اذا بشر احدهم بالانثی ظلت و جهه مسودا وهو کظيم يتواری من القوم من سوء ما بشربه ايمسکه علی هون ام يدسه فی التراب الاساء مايحکمون ) ژباړه:( او کله چې خبر ورکړای شي يو تن د دغو کفارو ته په پيداکېدلود لور نو وګرځي سورله قهره (خپل ) د هغه خبر له کبله چې ده ته ورکړل شوی دی، ايا وساتي دی هغه (لور ) سره د سپکوالي که ويې منډي ژوندئ په خاورو کې ، خبر اوسئ چې بد دی هغه چې حکم کوي دوئ )

**په امریکا کې**

غربیانو ښځو ته ازادي او ترقي نده ورکړې ، بلکه هغوی ته یې ذلت ورکړ، هغوی یې کار ته اړ باسلې چې له نفقې او لګښت څخه یې خلاص شي .

د هغوی کوچنیان یې د هغوی له نطر او روزنې څخه محروم کړل، په سرایونو دوکانونو او رقص خانو کې ورځنې کار اخلې لوڅ او له بې حیایۍ څخه ډک فلمونه یې ترینه ثبت کړل .

د سینماګانو په پردو کې یې هغه د حیوان په څیر معرفي کړله ، د هغوی ښایست ، ځواني او ارزښتمن بدن یې له خاورو سره خاورې کړ اوس هغوی نا چاره دي چې د ځان لپاره د نفقې د حاصلولو په غرض شپه او ورځ پر یوه کړي او ځان ته نفقه پیداکړي.

یو استاد چې په لوېدیځه نړۍ کې یې ډېر وخت اړولی و موږ ته وویل کله چې ما غربي ښځو ته په اسلام کې د دوی حقوق بیان کړل ډېرو ښځو ژړل او فریاد یې کاوه چې کاش په ختیځ کې له مسلمانونو سره اوسېدلی او له دې ګنده تمدن څخه لېرې وای .

حتی په لندن کې ان په یوولسمې پېړۍ کې هم ښځې پلورل کېدلې هغوی ته په هېڅ د تسلط حق نه و .

**په فرانسه کې**

که د اروپا تیر پېښلیک ته وګورو نو وینو چې هلته ښځه انسان نه ګنل کېده ، په کال ۵۸۶ م کې فرانسه یانو له ډېر کړېښښ وروسته ایله ښځو ته دومره خدمت وکړ چې هغوی یې دې پرېکړې ته اړ کړل چې ښځه انسانه ده ، خو سپکه، ذلیله او د خدمت لپاره پیدا شوې ده .

په فرانسه کې ښځه د خاوند تابع ده په خپل مال کې د لاسوهنې (تصرف) حق نه لري ، د هغې ټول مال د مېړه په واک کې دی .

ښځه د خاوند له موافقې پرته په هیڅ معامله کې ګډون نه شي کولای هلته خاوند له ښځې څخه خوند او ګټه اختیستلای شي ، خو نفقه یې په خاوند نه شته .

په فرانسه کې د ښځو له زړونو څخه د اولاد د مینې او محبت فطري جذبه وتلې ده ، هغوی اوس د اولاد پر مرګ خوښيږي .

د یوې ښځې د شیږو میاشتو کوچنی مړ شو ، نو دا د هغې په وړاندې په ګډا شوه او خپلو ګاونډیانو ته یې وویل : اوس موږ بیخي بل بچی نه زیږو ، زه او خاوند د دې بچې په مرګ ډېر خوښ یو .

په کال ۱۹۱۸ م د فبروري په میاشت کې د لوار محکمې ته دوه انجونې د بچیو د وژلو په جرم وړاندې شولې ، له دوی څخه یوې خپل بچې په اوبو کې ډوب کړی و ، دویمې د خپل زوی مری خفه کړې وه ، خو هغه ژوندی و ، بیا یې په هغه دیوال راوغورځاوه و سر یې میده شو ، خو دا د قانون په اند مجرمې ونه ګڼل شوې .

په همدې کال د مارچ په اتلسمه د (سن ) محکمې ته یوه رقاصه وړاندې کړل شوه چې د خپل زوی ژبه یې له تالو څخه راوېستلې وه ، سر یې ورته مات کړی و او مری یې ورته غوڅه کړې وه ، خو دا ښځه د محکمې پر وړاندې ګناهګره نه وه .

**په نورو اروپا کې**

په امریکا او فرنسه کې چې د ښځو کوم تصویر مونږ وړاندې کړ ، دا په ټوله اروپا کې چلیږي د ښځو او نارینه و بې قیده ازادي ، فحاشۍ او بد کارۍ ته ږده وکړه بربنډ تصویرونه ، عشقي افسانو ، ګډا ، سندرو او ...... د اروپا خلک داسي کړل چې له ژوند څخه یې ویستل هلته کورنی نظام ختم دی ښځه هیله نقفه ځانته پخپله ګټي د ځپل فزیکي او طبیعي جوړښت پرخلاف د ژوندانه د بوجونو پورته کولو د کورنې نظام ختمېدلو او ..... له ښځې څخه بې قدره اله جوړه کړله چې د ژوند غرض یې یواځې په همدې کې خلاصه شو چې د د نارینه وو د شهوت سړولو لپاره پیدا ده او بس ، دې بې قید او شرطه آزادی چې د لوېدیځ او اروپا د خلکو لپاره څه ډالی راوړلې. ښځه او اسلام (۱۸ ـ ۲۱ صفحه)

**ماخذونه:**

ښځه او اسلام ۱۲-۱۳ صفحه

همدا کتاب ۱۳- ۱۴ صفحه

همدا کتاب ۱۴- ۱۵ صفحه

همدا کتاب ۱۷-۱۸ صفحه

همدا کتاب ۲۰-۲۱ صفحه

همدا کتاب ۲۱-۲۲ صفحه

## دریم څپرکی

### ښځه په بېلا بېلو مذهبونو کې

### په یهودیت کې

یهودیان ښځې بې ارزښته او بې اهمیته ګڼي د هغوی په نظر ښځه د انساني مصیبتونو سرچینه ده لکه څنګه چې په یهودي خرافاتو کې حضرت (حوا) د انساني مصیبتونو بنسټ ګڼلی شي .

په یهودیت کې خاوند د ښځې د وژلو واکمن و ، عزت او شرافت یواځې د شړیو لپاره ځانګړی و ، نکاح یو غیر ضروري عنعنه ګڼل کېدله او که چا به نکاح وکړه نو د هغې پابندي ارومرو نه وه ، په وړو او معمولي خبره جدایي راتلله .

یهودیان په عیاشۍ او شهوت رانۍ کې دومره ډوب شول چې یوه زنا کاره ښځه د دې قوم معبوده وه او د هغې تعظیم به یې کاوه .

### اوسنۍ دوره

د 1980 م کلونو راهیسې د یهودو مذهبي سازمانونو کې د ښځو په حق کې اصلاحات راغلي. ښځو په عبادت خانو کې د تورات لوستلو حق ومونډ؛ په هرصورت ، مذهبي پوستونه لاهم د نارینه وو لخوا ساتل کیږي. همدارنګه ، په ځینو یهودي سازمانونو کې ، میرمنې حق لري چې منی رامینځته کړي او کولی شي ټیفلین اغوندي.

په مسیحیت کې

په مسیحیت کې ښځه د ګناه مور او د بدۍ نبسټ ګڼلی شي، د مسیحیانو په نزد ښځه یوه داسې سرچینه ده چې خلک د ګناه په لور لمسوي ، دجهنم په لور نېغه لاره او د ټولو انساني مصیبتونو پیل هم ښځه بولي ، دوی وایي : د دې ښځې والی له ټولو څخه غټ د شرم خبره ده ، ښځې ته په خپله ښلا او ښایست شرمېدل پکار دي چې تل دې د خپلو ګناهونو لپاره کفاره وکړي، ځکه د همدې له امله نړۍ او نړیوال په مصیبت او لعنت ګرفتار دي .

((ترتوليان )) [Tertullian] چ د مصيحيت په امامانو کې د يو لومړني پير امام دی د ښځو په هکله وايي : ښځه يوه داسې بدي ده چې رغېدن تري نه کيږي ، يوه پيدايشي وسوسه ده ، يو داسې افت دی چې مينه ورته کيږي ، يوه ښلا ده چې لوټل کوي او يو لوی ښکلی مصيبت دی .

د دوی هم اند دا دی چې د ښځې او سړي تر منځ عشقي اړيکې پخپل ذات کې پليتي او د اعتراض جوګه کار دی که څه هم دا اړيکې د نکاح په صورت کې وي ، پيغلتوب د اخلاقومعيار وټاکل شو لومړی خو دې هلک او انجلۍ بالکل واده نه کړي او که واده هم وکړي نو صنفي اړيکې دې نه ساتي د کليسا کارکوونکي په يواريتوب کې له ښځې سره يو ځای کېدلی نه شي ، داسې نظرونو د ښځې حيقيت له زيات سپک او کم کړ.

ښځې بيخي بې وسه او سړي په واک کې وه په ميراث کې ورته ډېر لږ حقوق و ، پخپله ګټه يې هيڅ واک نه درلود ، د هغې د هر څه واکمن د هغې خاوند و، د طلاق اجازه بلکل نه وه ، که څه هم د ښځې او خاوند زړونه ډېر بد شي، او که له کور څخه دوزخ هم جوړ شي، او که د ډېرې سختې اړتيا له کبله د بيلتون لپاره ناچاره شول نو له بېلېدلو څخه وروسته د دويم ځل نکاح اجازه بيا نه سړي ته شته او نه ښځې ته .

د خاوند د مړ کيدلو په صورت کې ښځې ته او د ښځې د مړه کېدلو په صورت کې خاوند ته د بلې نکاح اجازه نشته .

**ښځه په اسلام کې**

په پوره ډاډ ويلای شوچې اسلام دځمکې پرمخ يواځنی دين دی چې تربل هروضعي او اسماني دين يکې دښځو حقونه زيات خوندي دي.

داچې داسلام دښمنان په اسلا م تور لګوي چې ښځه په څلور کنجه ديوال کې بندول غواړي درواغ او پروپاګنډ ده،.حقيقت دادی چې اسلام هيڅکله دانه دي ويلي چې ښځه دي په کورکې بنديوانه شي؛ بلکې اسلا م په ټو لنيز ژوندکې ښځو ته هغه ټوله ازادي ورکړې ده څومره ازادي چې دټو لنيز ژوند لپاره ګټوره ثابتيدای شي.

اسلام وايي: ښځه اوسړی سره په خپل منځ کې داسې دي، لکه ورځ اوشپه. لکه څنګه چې شپه اوورځ ديوبل ضد نه دي، هغه رنګه ښځه اوسړی، اولکه څنګه چې کمال دورځې په شپه راځې اوکمال دشپې په

ورځ هغه رنګه کمال دسړي په ښځه اوکمال دښځې په سړي باندي راځي.الله پاک سړیو ته فرمايي: (هن لباس لکم و انتم لباس لهن. )ژباړه : (دوی ستاسو لپاره جامه ده او تاسو ددوی لپاره جامه یاست.)

اسلام په خاوند لازمه کړې ده او دا په خاوند د ښځې حق بولي چي له خپلي میرمني سره به ښه چلند کوي، دهغې دعزت خیال به ساتي ،تر وړوتیروتنوبه يې ورتېرېږي، نرمي به ورسره کوي او د دې د زړه خپلولو لپاره به دامکان ترحده کوشش کوي، لکه الله پاک چي فرمايي: (وَعَاشِرُوا هُنَ بِالمَعرُوفِ. )ژباړه : (او له دوی سره په ښه طریقه ګذران کوئ.) اوبل ځای فرمايي: (وَلّهُنّ مِثلُ الّذِی عَلَیهِنّ بِالمَعرُوفِ.) ژباړه : (او د هغو (ښځو) لپاره (په خاوندانو باندې حقونه) دي په شان د هغو (حقونو) چي په ښځو باندې لازم دي (د خپلو خاوندانو لپاره). ښځه او اسلام(۲۳-۱۹-۲۸ صفحه)

**په اسلام کې د ښځو مقام**

په تېرو مخونو کې مو د ښځې د ژوند حالات په بیلابیلو مذهبونو او قومونو کې ولوستل ومو لیدل چې له اسلام څخه وړاندې به لورګاني ژوندۍ تر خاورو لاندې کېدلې ، د هغوی وجود ، مصیبت ګڼل کېده له خپلو انساني حقوقو څخه محرومي وې میراث نه ورکول کېده ، په زنا مجبورېدلې ، اوسني جاهلیت هم ښځه د خپلو غوښتنو د تسکین اله وګرځوله ، هغه یې په الوتکو کې د مسافرو د زړه د خوښۍ لپاره وکاروله ؟هغه یې د سوداګرۍ او دتوکیو د نمایش او مشهورتیا لپاره استعمال کړله د هغوی قدر ، قیمت او حیثیت یې هیڅ کړ .

مګر اسلام ښځې ته له نارینه ځیني ډېر عزت او حقوق ورکړل ، که د رسول ص سیرت وګورو نو وبه وینو چې هغه د ښځې دوست او پر هغوی مهربانه او دهغوی د حقوقو سترساتونکی و .

اسلام ښځې ته سیاسي ، اقتصادي او اجتماعي ټول حقوق ورکړل هغه په خپل مال کې د تصرف پوره واکمنه ده ، اسلام ښځې ته دومره درنښت او عزت ورکړ چې د لوېدیځ د پرمختللي ټولني په تصور او خیال کې به هم ونه ګرځي .

اسلام د ښځو نفقه ، جامه او د ژوند ټول ضروریات له واده څخه د مخه پر پلار ، ورور یا بل نژدې خپل او له واده څخه وروسته پر مېړه فرض وګرځول مېړه ته یې امر وکړ چې له ښځې سره نېکه ګذاره کوه : الله فرمايي (وعاشروهن بالمعروف)

ژباړه: ( او ګذران کوئ له ښځو سره په ښه طریقه .)

د نر اوښځې تر منځ د محبت د لازياتوالي په غرض فرمايي : ( هن لباس لكم و انتم لباس لهن) ژباره : ( هغوی ستاسي لپاره جامه ده او تاسي د هغوی لپاره جامه يئ . )

له رسول الله ص څخه پوښتنه وشوه چې زما د نېک صحبت ډېرمستحق څوک دی ؟ ځواب يې ورکړ چې مور دې ده ، هغه درې ځلې همداسې وپوښتل هغوی ص به ځواب ورکاوه چې مور دی ده په څلورم ځل يې ورته وفرمايل چې پلار دې .)

رسول الله ص فرمايي : ( په دنيا کې مې له درې شيانو سره ډېره مينه ده چې يوه ترې ښځه يادوي ) ...رواه نسايي .

فرمايي چا چې دوه جينکۍ وپاللې تر هغې چې بالغې شي نو دقيامت په ورځ به زه او هغه په دې ډول راځو او دواړه ګوتې يې يو ځای کړلې)۰

( دنيا خوند او مزه ده او غوره خوند يې نېکه او صالحه ښځه ده) همدا راز فرمايي : ( ښځه د نارينه سکه خورګاني دي ، د ښځو عزت نه کوي مګر هغه څوک چې خپله عزتمن وي او دهغوی سپکاوی نه کوي مګر بد اخلاقه او تر هرچا وروسته پاتې )

رسول الله ص دمرګ په بستره پروت و او ويل يې چې : ( له ښځو سره په نيکی کولو وصيت کوئ)

فرمايي غوره ستاسو څخه هغه دی چې له ښځو سره د خير اوښېګيي څخه کار واخلي. اسلام ښځې ته د مېړه د انتخاب حق ورکړ ، د هغې تعليم يې فرض وګرځاوه ، په کار کولو اړوتې نده او د نر او ښځې يو پر بل مطلق قضيلت او واکمني يې له منځه وېوړه .

الله ج فرمايي : ( هر چا چې نېک عمل وکړ له نارينه څخه يا له ښځو څخه حال دا چې دی مؤمن وي نو خا مخا ژوند به ورکړو دوی ته ژوند پاکيزه او خامخا به ورکړو دوی ته اجر د دوی په ډېرو ښو هغو نېکيو سره چې وو دوی چې کول به يې )

رسول الله ص د خديجې ( رض ) د وفات کال عام الحهزن ( دغم کال) وباله، حضرت عمر رض ديوې ښځې د نظر په هکله وايي : حضرت عمر رض په توره تياره کې له کور څخه بهر په مدينه منوره کې ګرځېده يوې ښځې چې د کور دروازه يې ځان پسي تړلې وه د خپل مېړه په ياد کې داسي شعرونه ويل چې د هغه د ملاقت رغبت يې پکې کاوه حضرت عمر د دې کور دروازه و ټکوله ترهغې يې ورته دروازه

ښېرته نکړه ، ترڅو چې ښه مطمئنه شوه چې ټکوونکی عمر رض دی ، عمر هم د هغې په پاک او عظمت مطمئن شو ورته یې وویل چې څه دې لږ مخکې ویل تکرار یې کړه هغې هم ورته تکرار کړل عمر رض ورځیني وپوښتل چې خاوند دی چېرته دی ؟

هغې ځواب ورکړ چې په فالني لښکر کې جهاد ته تلل دی حضرت عمررض د دې لښکر قوماندان ته سړی ورولیږه تر څو د دې ښځې خاوند کورته راولیږي هغه راغی او دحضرت عمر رض په خدمت کې حاضر شو، حضرت عمر رض هغه کورته ولیږه بیا حضرت عمر رض له خپلې لور حفصي څخه وپوښتل چې ښځه د خاوند د بېلتون څومره تحمل لري ؟ حضرت حفضي رض ورته وویل یوه میاشت یا دوه یا درې په څلورمه میاشت صبر ختمیږي نو حضرت عمر رض همدا نېټه د مجاهدو لښکرو لپاره وټاکله .

وګورئ حضرت عمر رض د دې ښځې څومره درناوی او احترام وکړ ، د دې لپاره چې پر ښځو د مېړه جدايي سخته تمامه نشي د هغوی لپاره یي نېټه و ټاکله . ښځه او اسلام (۶۸-۶۹ صفحه)

**د ښځو اوچت مقام قرانکریم په رڼا کې**

۱ ـ الله تعالی دښځو پیدایښت پرانسانانو باندې یو لوی انعام او دخپل قدرت یوه معجزه ګڼلی ده، او ښځې ئې دناړینه و لپاره دآرامی او سکون مصدراو د دوستی او مهربانی وسیله ګرځولي ده، لکه چې الله تعالی فرمائی ( : ومن آیاته ان خلق لکم من انفسکم ازواجا لتسکنوا الیها وجعل بینکم موده ورحمة)

(سورة الروم آیة ۲۱ )

ژباړه : دالله تعالی دقدرت دنښو څخه داده چې تاسي ته ئې ستاسو دجنس څخه ښځې پیدا کړي ترڅو تاسي مائل شی دوي ته او مطمئن اوسی او ګرځولی ئی دی ستاسي ترمنځ دوستي او شفقت

۲ ـ الله تعالی ښځې هغه مخلوق ګرځولی دی چې په هغې باندې دناړینه و سترګو یخي او روښانه کیږي الله تعالی فرمائی ( : والذین یقولون ربنا هب لنا من ازواجنا وذریاتنا قرة اعین)

( سورة الفرقان ایت ۷٤ )

ژباړه : او دالله تعالی نیکان بندګان هغه کسان دي چې دوی وائې ای ربه زمونږ مونږ ته پخپلو ښځو او ځامنو باندې دسترګو یخ والی راوبښه.

ژباړه (زمونږه ښځې او ځامن نیکان وګرځوه چې دوی زمونږ ددنیا و اودآخرت دسعادت او دسترګو ديخې او روښانیدو وسیله وګرځي. )

نو معلومه شوه چې شیطان دښځو او نارینه و دشمن دی او دواړه دوکه کوي نو بیا ولې ښځې یواځې ملامت ګڼل کیږي.

۳ - ددنیا ژوند دښځې او نارینه په مشارکت سره مخ په وړاندې ځی او یو بل ته ضرورت لری او که په دغو دواړو کې یو نه وی نو ژوند سخت دی دغه مطلب ددغه ایت څخه اخیستل کیږی( هن لباس لکم وانتم لباس لهن)

( سورة بقره ایت ۱۸۷ )

:ښځې جامه ده ستاسو دپاره او تاسو جامه یې دښځو دپاره

یعني نارینه دښځې د لباس حیثیت لری او ښځې د نارینه دپاره د لباس حیثیت لری او دا په څو وجه سره دی. اوله وجه دا چې لکه څنګه چې جامه او بدن یو بل سره جوخت او لازم او ملزوم دي .

**د ښځو اوچت مقام د نبوي احادیثو په رڼا کې**

دنبوی احادیثو په ذخیره کې داسې ډیر روایتونه موجود دي چې په هغې کې دښځو اوچت مقام ذکر شوی دی، خو زه په دغه لویه ذخیره کې صرف یو څو روایتونه ذکر کوم چې دهغې څخه دښځو اوچت مقام په اسلام کې ډیر ښه معلومیږي چې هغه په لاندې ډول دی:

۱- امام احمدبن حنبل او امام نسائی رحمهما الله دانس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی ( : حبب الی من الدنیا النساء والطیب وجعلت قرة عینی فی الصلاة)

( مشکوة صفحه ٤٤٩ )

ژباړه : ددنیا څخه ماته ښځې او خوشبویي محبوب دي او ځما د سترګو یخوالی په لمانځه کې ګرځول شوی دی.

۲- امام مسلم، امام احمد او امام ترمذي اسماء بنت یزید رضي الله عنه څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دي (: لا یحل الکذب الا في ثلاث کذب الرجل امراته لیرضیها والکذب فی الحرب والکذب لیصلح بین الناس)

( مشکوة صفحه ٤٢٨ )

ژباړه : دروغ ويل روا نه دی مګر په دريو ښيانو کې، يو دميره دروغ ويل دخپلې ښځې دخوشحالولو لپاره، کافرانو سره دجنګ په حالت کې دروغ ويل او دخلکو ترمنځ داصلاح لپاره دروغ ويل.

**د ښځې حقوق په اسلام کې**

**الف: اقتصادي حقوق**

اسلام چې څومره حقوق په دې اړوند نارينه وو ته ورکړي دي په هماغه پيمانه يې ښځو ته هم ورکړي دي په کوم ځای کې چې نارينه ته د کار اجازه ورکړل شوې ده ښځو ته هم شوې ده او يوه دروازه يې هم پرې نه ده تړلې.

د ژوند يو باب هم داسې نه شته چې هلته د نارينه لپاره د کار او تجارت ) سوداګري ( اجازه وي او پر ښځو تړلې وي، ښځه په خپل ټول مال کې د تصرف ) لاسوهنې ( پوره حق لري، هغه سوداګري کول شي، له بخښنې ، اجارې او صدقې څخه يې هېڅوک ايسارولې نشي ، نه خاوند د هغې واکدار دی او نه پلار او نور که چيرته د هغې تصرفات شرعي بيه ولري او کله چې تصرفات شرعي بيه ونه لري نو بيا خو د نارينه مخه هم نيول کيږي د دې ډېرې بېلګې د اسلام په تاريخ کې شته دي چې په صدر د اسلام کې به ښځو سوادګري کوله په اسلام کې تصور داسې دی چې هر چاته د خپل زحمت په اندازه برخه ورکول کيږي الله ج فرمايي : (للرجهال نصيب مما اکتسبواوللنساء نصيب مما اکتسبن . )

فرمايي : ( سړيو ته برخه ده له خپلې ګټې څخه او ښځو ته برخه ده له خپلې ګټې څخه) .

ښځې ته که د ميراث ، مهر ،سوداګرئ يا کومې بلې لارې څخه څه په لاس ورځي نو چې څه وغواړي هغه پرې کوالی چې له خپل خاوند ، پلار او ورور څخه پرته بل چاته يې ورکړي ،اسلام چې په دې اړوند څومره حقوق ښځو ته ورکړي په بل يو مذهب کې هم ندي ورکول شوي هغه که هر څومره شتمنې ولري خو بيا هم نفقه يې پر خاوند فرض ده.

**ب:سیاسي حقوق**

اسلام ښځو د رایې ، د د انتخابېدلو او انتخابولو پوره حق ورکړی دی الله ج فرمایي (ژباره ای پیغمبره ! کله چې راشي تالره مسلماني ښځې چې ته سره بیعت وکړي ) الممتحنه ۱۲ ایت

دلته وینو چې د ښځو بیعت د نظام د مشروعیت شرط ګڼل شوی دی ، ځکه چې په هغه وخت کې پیغمبر(ص) سیاسي لارښود هم وه .

هغه حقوق چې په غوښتنه یې خلک د دولت په اداراتو کې ګډون کوي ،په ټولپوښتنه (ریفرنډم ) او انتخاباتو کې ځان ته د ګډون او د پارلمان د غړیتوب او د جمهوري ریاست لپاره د ځان د کاندید حق حاصلوي.

ځینې پخواني او ډېر معاصر علماء وایي چې ښځه ټول سیاسي حقوق لري ،اسلام نه د دولت له ریاست څخه منع کړې ده او نه په حکومت کې له کار څخه په پخوانیو فقهاء و کې لکه : امام ماوردي په الاحکام السطانیه او ابن خلدون په المقدمه کې د خالفت شرطونه یاد کړي دي ،خو نارینه

سړیتوب نه دی یاد کړی ،همدا رنګه دکتور احمد شلبي په السیاسة فه الفکرالاسلامي کې نارینه توب د خلافت لپاره نه دی شرط کړی .

دکتور قطب محمد قطب طبیله په الوسیط في النظم الامیه.

او موالنا ګوهر الرحمن په اسلامي سیاست کې وایي چې ښځه په ټولو دولتي اداراتو کې ګډون کول شي ، خو د دولت د ریاست حق نه لري ،سید ابوالاعلی مودودي ( رح ) وایي سیاسي حقوق د هر عاقل ،بالغ سړي او ښځې ثابت حق دی. لري.

**ج: ټولنيز حقوق**

**۱: د زده کړې حق:**

اسلام تعليم ته تر هر څه ډېر ارزښت ورکړی او په نر اوښځه يې فرض ګرځولی دی ، ځکه چې تعليم د دين او دنيا ذريعه ده.

اسلام وګړي د ناپوهۍ له تورو تيارو څخه د علم او معرفت روښنايي ته را وبلل، ړومبنيو او وروستنيو علماوو ليک او لوست ته ځانګړی ارزښت ورکړی دی.

کله چې الله ج خپل محبوب په رسالت مبعوث کړ نو ترهرڅه لومړی يې ورته په لوستلو امر وکړ او دقلم لويي او عظمت يې ورته ورڅرګند کړ لکه

چې فرمايي : (اقرا باسم ربک الذی خلق خلق الانسان من علق ،اقرا وربک الاکرم الذی علم بالقلم ، علم الانسان مالم يعلم)

ژباړه : ولوله د خپل رب په نوم سره چې د ټولو پيدا کوونکی دی، پيدا کړي يې دی انسان له ټوټې د وينې څخه ، ولوله رب ستا لوی کريم دی کوم چې علم وښودلو په قلم سره او ويې ښودلو انسان ته هغه څه چې دی پرې نه پوهېده.

د الله ج له دې وينا څخه د علم اوقلم مقام او عظمت ښه څرګندېږي چې دلومړئ وحی او د خپل کلام پيل يې پرې وکړ. بل ځای کې فرمايي : (ن ، ولقلم ومايسطرون)

ژباړه : ( قسم دی په قلم او څه چې ليکي)

ټول مفسرين په دی متفق دي چې الله ج په هغه څه سره سوګند يادوي چې په هغه کې لويه ګټه او ارزښتمن وي.

الله ج خپلو بندګانو ته لاښوونه کوي چې له الله ج څخه په علم او پوهه کې د زياتوالي دعا وغواړي.

فرمايي (وقل رب زدن علما ن)

ژباړه : (و وايه ای ربه زما زياد کړه علم زما)

حضرت قتاده ص فرمايي : ( قلم د الله تعال لوی نعمت دی که قلم نه وای نو نه به د دين څه پاتې و او نه به د دنيا څه کار وبار کېده)

تعليم انسان له نورو حيواناتو څخه پورته او اشرف ګرځوي نو لکه څنګه چې روښانه ده چې د دين احکام نارينه او ښځينه دواړو ډلو ته شامل دي ، نو بيا به هيڅ داسې معقول دليل نه وي چې د هغه په سبب ښځه له تعليم څخه محرومه وګرځول شي ، رسول الله ص فرمايي : ( د علم طلب په هر نر او ښځې دواړو فرض دی)

په کورنۍ کې چې پوهه ښځه وي د کورنۍ نظم ښه وي د اولاد روزنه ښه کېږي په ښځو کې د پوهې او استعداد خاوندانې ډېرې دي او پکار ده چې د دوی استعداد عبث او بې ځايه نشي ، ځيني علوم دي چې ښځه يې هرومرو بايد زده کړي او له هغو څخه په ناخبرئ کې ورته ستره ستونزه ده او داسې مسائل هم شته چې نارينه و ته د هغې ښکارول د شرم او ننګ خبره ده نو پکار دي چې ښځې خپل علاج پخپله وکړي ، او داسې مسائل زده کړي لکه په شرعي علومو کې ، حيا ، نفاس ، په طبي علومو کې د ښځينه ځانګړيو ناروغيو علاج او دېته اړتيا پيښه نشي چې د پردي نارينه په وړاندې خپل عورت لوڅ کړي.

په هدايه کې وايي ..... وينبغي للمهراة ان تعلم مداوتها الان نظر الجنس

الجنس اسهل .

فرمايي :او مناسب ده چې ښځه د ښځې د ناروغۍ علاج زده کړي ، ځکه چې خپل جنس ته کتل اسان دي .

**۲: د کار کولو حق**

الله ج فرمايي : ( بعضکم من بعض ) .. ال عمران ۱۹۵

ژباړه : ( ځيني ستاسې له ځيني نورو يئ . )

انسان ژوندی موجود دی او طبيعت يې هم داسې عيار شوی دي چې دخپل بدن د جوړښت په نظر کې نيولوسره کار وکړي ، تحرک وکړي ، فکر وکړي او که داسې نه وي نو بيا خو انسان نه شو .

الله ج هم انسانان د کار لپاره پيدا کړی دی ، بلکې عمل او کار يې د خلقت هدف ښودلی دی .

فرمايي (ليبلوکم ايکم احسن عملا )

ژباړه : ( چې وازموي تاسې چې کوم يو له تاسو ډېر ښه دی د عمل له مخې . )

فرمايي (فاستجاب لهم ربهم ان الاضيع عمل عامل منکم من ذکر او انثی .) ژباړه: (پس قبولې کړلې دوی ته رب د دوی ، بېشکه زه چې يم نه ضايع کوم عمل د هيڅ عمل کوونکي له تاسي نه نارينه وي که ښځينه ).

په عمومي ډول ښځو ته کار روا دی ، ان په ځينو وختونو کې ورته مستحب او فرض هم دی لکه کونډه يا طلاق شوې ښځه چې د کار انرژي هم لري ، اولاد هم ولري او د ګټې بله مرجع هم ونه لري ، او کار ته هم محتاجه وي يا ورته واړه ورونه او خويندې پاتې وي ، يا يې پلار سپين ږيرى وي يا يې مېړه بې وسه وي ، نو په دې ټولو صورتونو کې په ښځه لازم دي چې د کورنۍ د بار د اوچتولو لپاره کار وکړي ، لکه د حضرت ابوبکر صديق رض ، لور ، حضرت اسماء به چې له خپل خاوند سره هر ډول مرسته کوله ، اس به يې ورته ساته ، په سر به يې ورته بار وړه.

**د: پر خاوند د ښځې حقوق**

ښځه په عمومي صورت پر خاوند دوه ډوله حقوق لري

١ مادي

٢ معنوي

**الف: مادي حقوق**

د ښځې مادي حقوق عبارت دی له نفقه او مهر څخه ، چې هر يو يې په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نيسو .

**١: د مهر حق**

مهرد ښځې حق دی ، دغه حق د واده له عقد سره سم په ميره لازميږي.

الله ج فرمايي (وءاتوا النساء صدقتهن نحلة فان طبن لکم عن شی منه نفسا فکلوه هنيئا مريا)

ژباړه : او ورکړئ ښځو ته خپل مهرونه په خوښی سره (چې فرض شوي دي له طرفه د الله ج پر تاسو ) نو که راضي شوي دا ښځې تاسي ته د کوم شي له دي (مهر) څخه په خوشحالی د نفس خپل نو وخوری تاسي دغه شی ، په داسي حال کې چې خوندوره ، حلاله ، بې ضرره وي .

**۲ : د نفقي حق**

نفقه په لغت کې هغه څه ته ویل کیږي چې انسان خپلې کورنی لپاره مصرفوي اوپه اصطلاح کې خواړه ، د اغوستلو ټوکې ، او ځای څخه عبارت دی .

الله ج په قران پاک کې د نفقي په اړه داسي فرمایلي دي ( وعلي المولودله رزقهن و کسوتهن بالمعروف) (البقره)

ژباړه : او ده په هغه چاچې زیږول شوي دي ورته (پلار) روزي د دوی (یعني مېندو) او کالي او جامې د دوی

**ب: معنوي حقوق**

د ښځې معنوي حقوق عبارت دی له :

**۱ : ښه چلند**

الله ج په قرانکریم کی داسي فرمایلي دي (وعاشروهن بالمعروف فان کرهتموهن أن قعسی أن تکرهوا شیأ ویجعل الله فیه خیرأ کثیرا )

ژباړه : (دوی سره په ښه طریقه گذران کوئ، نو که دوی ستاسو خوښې نه وي، نو کېدی شي چې تاسو به یو شی بد گڼئ او الله به په هغه کې ډېر زیات خیر ایښی وي.) ۱۹ ایت سوره نساء

**۲ : د ښځې د حیثیت او شرافت خوندیتوب**

پر خاوند لازمه ده تر څو د خپلې میرمني عزت او شرافت څخه یې ساتنه وکړي .

### ۳ : د میرمنې د جنسي غریزي پوره کول

د ښځې د جنسي غریزي پوره کول په خاوند لازمه ده . الله فرمایي ( فاذ تطهرن فأتوهن من حیث أمرکم الله ان الله یحب التوبین و یحب المتطهرین )

ژباره : وروسته له هغې چې ښځې د میاشتي عادت څخه پاکه شي نو راتګ وکړئ ورته (جماع ورسره وکړئ ) له هغه ځای چې الله ج امر کړی دی ، بیشکه الله توابه ویستوونکي او پاک خلک خوابښي .

### ۴ : د دین تعلیم او عبادت ته هڅول

دښځې د حقوقو څخه یو دا هم دي چې میره  یي باید ښووني او روزنې ته پام وکړي او دیني احکام او مسایل ورته زده کړي.

### ۵ : د ښځو د ورو تیروتنو سترګې پټول

پدي اړه رسول الله (ص) داسې فرمایلي دي (هیڅ مومن او مسلمان سړی یوې مسلمانې ښځې ته په کامله توګه په بده او کرکه ونه ګوري ځکه داسي پیښن شي چې د هغې یو خوي بد وګني نو خامخا بل خوي هم لري چې ښایي هغه خوبن او خوشخاله شي.

### ۶ : وهلو څخه ځان ساتل

د الله رسول (ص) فرمایلي دي (ښځې په مخ مه وهئ ، هغوی ته بد رد مه وایئ ، بیلوالی مه کوئ مګر د خوابدی په وخت کې نو یواځې بستره ترینه بیله کړئ.

بل ځای فرمایي (تاسو خپلې مېرمنې د غلام په څېر مه وهئ چې بیا د ورځې په پای کې له هغوئ  سره جماع هم کوئ.

### ۷ : د ښځې د عیبونه او رازونه پټول

مېره باید د خپلې ښځې راز او اسرار خوندي کړي او نورو ته یي ښکاره نه کړي.

### ۸ : د خپلې مېرمنې په اړه نیک نظر درلودل

خاوند باید همیشه د خپلې مېرمنې په اړه نیک نظر ولري او بد ګوماني ونه کړي الله (ج) فرمايي ژباړه (اي هغه کسانو چې ایمان مو راوړي له ډېرو ګمانونو او شکونو نه پرهیز وکړئ ځینې شکونه ګناه وي.

### په اسلام کې د نارینه او ښځې اړیکې

په اسلام کې د نر او ښځې اړیکې د مینې او محبت ، دوستانې اړیکې دي هغوی یو بل ته د ژوند په اوږدو کې ډېره اړتیا لري ، او یو له بل څخه بې پروایي ناممکنه ده، هغوی یو د بل پوره کوونکي دي.

ښځه او خاوند یو له بل څخه سترتیا لرې کوي ، دردونه کموي ، یوبل ته د اطمنان او سکون لامل دي.

رسول الله ص به چې کوم اطمئنان او سکون له بي بي خدیجې او ام سهلمې رض څخه حاصلاوه هغه تاریخ روښانه کړی دی ، په اسلام کې د نورو مذهبونو پرخلاف د نر او ښځې یو ځای اوسېدل او په ګډه سره د ژوند بېړۍ پر مخ بېول د قدر او ستاینې وړ عمل ګڼل کیږي ، په هندوانو کې چې څوک له ښځو سره اړیکې ساتي هغه بدبخته ګڼل کیږي ، او د بریالیتوب او خلاصون دروازې یې پرمخ تړلې دي ، خو اسلام هغوی یو د بل جامه ګڼي. الله ج فرمايي : (هن لباس لکم و انتم لباس لهن )

ژباړه : ( هغوی ستاسي لپاره جامعه او تاسي د هغوی لپاره جامعه یاست ).ښځه او اسلام(۷۲صفحه)

**ماخذونه :**

ښځه او اسلام ۲۳، ۲۸-۲۹ صفحه

روهي ويب پاڼه ښځه په اسلام کې

ښځه او اسلام ۶۸-۶۹ صفحه

د ښځو د حقوقو څخه دفاع په قران او سنت کې ۱۹-۲۰ ، ۴۱، ۵۶ صفحې

ښځه او اسلام ۹۸-۹۹ صفحې

همدا کتاب ۹۹-۱۰۰ صفحې

ښځه د فقهي او قانون در منځ ۲۲۳، ۲۲۷ صفحې

زيتون مجله پنځم کال ۱۷ گڼه

ښځه او اسلام ۷۲ صفحه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ځلورم ځیرکی

### ښځه په افغانسان کي

| جدول د جنس په توپیر سره | |
|---|---|
| مشرانو جرگه | ۲۱ |
| ولسي جرگه | ۶۰ |
| ولایتي شوراګاني | ۹۷ |
| د اتحادیو غړي | ۳۹۷,۴ |
| والیان | ۱ |
| مرستیال والیان | - |
| ولسوالان | ۱ |
| حقوقي سلاکاران | ۶ |
| قاضیان | ۲۰۱ |
| څارنوالان | ۳۱۹ |
| مدافع وکیلان | ۲۴۰ |
| افسران | ۲۴۳ |
| ساتنمنان | ۸۳۰ |
| سرتیرې | ۸۹۴ |
| د ملکي خدماتو کارکوونکي | ۸۷۹۱۰ |
| | |

### افغان میرمني

د افغانستان نفوس تقریبا 34 میلیونه دی. له دې جملي څخه 15 ملیونه نارینه او 14.2 میلیونه ښځینه دي. د افغانستان 22٪ وګړي ښاري دي او پاتې 78٪ په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي. د محلي دودونو د یوې برخي په توګه، ډیری ښځینه ژر تر ژره د لیسې بشپړولو وروسته واده شوې. سرچینه : د ۱۳۹۴ کال احصائیوي کلنی .

د افغانستان واکمنانو په دوامداره توګه هڅه کړې چې د ښځو ازادي زیاته کړي. د ډیری برخې لپاره، دا هڅې ناکامې وې. په هرصورت، هلته یو شمیر مشران شتون درلود چې کولی شي یو څه مهم بدلونونه رامینځته کړي. د دوی په منځ کې پاچا Amanullah khan، چې له 1919 څخه تر 1929 پورې واک درلود او یو شمېر نور مهم بدلونونه یې د یووالي کولو او همدارنګه هیواد ته د عصري کولو په هڅه کې کړل.



افغاني ښځې په ۱۹۲۰ کال کې

د هغه په تعقیب د نورو واکمنانو سره، په عامه ساحه کې د ښځو لپاره آزادی ته وده ورکړه ،امان الله د ښځینه زده کړې اهمیت ټینګار وکړ. د کورنیو هڅولو سره سره خپلې لونې ښوونځیو ته واستولې، هغه د ښځو انکشاف ته وده ورکړه.

د افغان ښځو لپاره معاصر ټولنیز اصلاحات پیل شول کله چې د امان الله مېرمنې ملکیا سوریا، د میرمنو ژوند او په کورنۍ کې د دوی موقف ته وده ورکول چټک کړل.

لږ شمیر میرمنو وکولای شول د کارپوهانو، ښوونکو، ډاکټرانو او ملکي کارکوونکو په توګه دندې ترسره کړي، او دوی د پام وړ زده کړو فرصتونو سره د پام وړ آزادي درلوده.

**زده کړې**



افغاني نجونې د انټرنټ استعمالو حالت کې ، د هرات پوهنتون

په افغانستان کې ښوونه خورا غریبه ده، مګر ورو ورو وده کوي. د میرمنو لپاره سواد کچه یوازې 24.2٪ ده. په هیواد کې شاوخوا 9 میلیونه زده کونکي شتون لري. له دې څخه، نږدې 60٪ نارینه او 40٪ ښځې دي. له 174000 څخه زیات زده کونکي په ټول هیواد کې په مختلفو پوهنتونونو کې شامل دي. شاوخوا 21٪ یې ښځینه دي.





په 1987 کال کې په کابل کې د یوه ښوونکي په توګه   د 1950 لسیزې یا د 1960 په لومړیو کې د کابل په پوهنتون کې د بیولوژي ټولګي.

د کابل پوهنتون نجونو ته په 1947 کې پرانستل شو او په 1973 کال کې شاوخوا 150،000 نجونې په ټول افغانستان کې ښوونځیو کې وې.

**د مجاهدینو او طالبانو دوره**

**چادري**

کله چې طالبان افغانستان ته راغلل ، خپل اسلامي حکومت یې اعلان کړ . ښځو د کور نه وتل بند شول ، که چیرته کومه ښځه د کوم ضرورت لپاره لکه ، ډاکټر یا شفاخانې ته تلله نو باید چې پوره پټه وي د سر نه تر پښو  پورې او حجاب کې خو سترګې او لاسونه ښکاریدل ،ټولې ښځې مجبوره کرلې چې چادري واغوندي ، چادرې یو پردی فرهنګ دی چې د طالبانو پواسطه د افغانستان په مظلومو ښځو تپلی شوی دی ، چې اوس مهال یې یو مذهبي بڼه خپله کړې ده . زما په یاد دي یوه ورځ ښار کې یو نفر خپله ښځه یې موټر سایکل شاته کېنولې وه د هغې صرف د پښو ګوتې ښکاریدلې ، یو طالب راغی او ښځه یې درې څلور دورې ووهله او خاوند ته یې ووایل چې د ښځې عورت دې ښکاري .

د طالبانو د ښځه کلنې واکمنۍ پرمهال،ځینې میرمنې چې یوځل د درناوي پوستونه یې درلودل مجبورې شولې چې په خپلو کورونه کې کېني، که څه هم ښځې د ډیرو کارونو څخه منع شوې وې،په دې کې ښوونه هم شامله وه، په ص ډګر کې ځینو ښځو اجازه درلوده چې کار ته دوام ورکړي. دا ځکه چې اړینه وه چې ښځې یوازې د ښځینه ډاکټرانو لخوا درملنه کیدلی شي.

دا د ښځو لپاره ډیره مشکله وه چې روغتون ته لاړه شي، او هغه کسان چې هڅه یې کوله روغتون ته لاړ شي هغه هیڅ تضمین نه درلودو چې هغه به د ډاکټر لخوا لیدل کیږي.

**د ښځو حقوق په اساسي قانون:**

**د بیان ازادئ حق :**

د بیان ازادي له تیري څخه خوندي ده ، هر افغان حق لري چې خپل فکر ، وینا ، لیکنې ،او انځورونه یا نورو وسیلو له لارې ، په اساسي قانون کې د راغلیو حکمونو په سره څرګند کړي .

**د انتخابېدلو او انتخابولو حق :**

د افغانستان ټول اتباع ، ښځینه وي او که نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق لري او د هیواد په سرنوشت سازو پرېکړو کې د ارادې ، نظر څرګندل ، د انتخابیدلو او انتخابولو حق لري .

**سیاسي ګونونو جوړولو حق :**

د افغانستان اتباع حق لري ، دقانون له حکمونو سره سم ، سیاسي ګوندونه جوړې کړي .

**د مدني ټولنو جوړولو حق :**

د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مادي اویا معنوي غوښتنو د تامین لپاره ، دقانون له حکمونو سره سم ، ټولنې جوړې کړي .

**سوله یزې مظاهرې کولو حق :**

د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ییزو غوښتنو د تامین لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړې .

**د دولت څخه د پوښتنې کولو حق :**

دولت بودجه مو څنګه مصرف کړه ، کوم کارونه مو وکړل او څومره کامیاب یاست ، په راتلونکې کې څه پلانونه لرئ .

**معلوماتو ته لاس رسی حق :**

د افغانستان اتباع حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات تر لاسه کړي

**صحي حدماتو ته د لاس رسي حق :**

دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغيو د مخنيو او د وړيا علاج وسيلې او د روغتيايي اسانتياوې د قانون له حکمونو سر سم تامينوي .

**اقتصادي حقوق :**

د خپلو لومړنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره له خپلو اقتصادي عايداتو څخه ګټه اخيستل . د اسلام دين د ښځو د اقتصادي سرچينو د تامينولو لپاره ځرګندې ځانګړې لارښوونې کړې او په هره برخه کې يې ښځې هڅولې دي چې اقتصادي چارو کې په فعاله توګه برخه واخلي .

د افغانستان اساسي قانون دې اړه ښځې ته پوره د کار او تجارت سوداګري حق ورکړی دی . ښځه په خپل ټول مال کې د صدقې ورکولو پوره حق لري .

**ټولنيز حقوق**

**۱ـ د تعليم حق :**

زده کړه د افغانسان د ټولو اتباعو حق دی چې تر ثانوي دورې پورې د دولت له خوا تامينيږي .

ښځې د علم او پوهې زده کړې ته په دې خاطر هم زيات ضرورت لري چې هغوی د خپلو اولادونو د پالنې او روزنې وظيفه پر غاړه لري .

مهاتما ګاندهي وايي د يو نارينه روزل، يو شخص روزل دي مګر د يوې ښځې روزل بيا د ټول ملت روزل دي .

بې تعليمه ميندې تل نورو ته محتاجې وي، که زوی يا لور يې ناجوړه شي دومره به نشي کولی چې د ډاکتر د نسخې سره سم خپلو بچو ته په ټاکلې وخت دوا ورکړي.

**۲ـ د کار حق :**

کار د هر افغان حق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښځه کولای شي چې د دولت په چارو ونډه واخلي، د خلکو استاریتوب وکړي،قضاوت وکړي ، استادي وکړي ، تجارت وکړي او ډاکټره شي، اما د اسلام په چوکات کې .

د ښځې کار کول د ټولني ضرورت دی ، د ټولني دې غوښتني هغه اړه کړله چې بهر ته راووځي ، ځکه ښځه نشي کولی چې خپل تکلیف نارینه ډاکټر ته ووایي په خصوصاً ښځینه ناروغۍ ، او یا هم خپل عورت ورته وښيي نو د ټولنې د دې ستونزې حل لپاره د ښځې کار کول اړین وو .

**افغانه ښځه په تېرو ۱۰ کلونو کې**

ښځې د ټولنې د نیمي برخې په توګه د یوې ټولنې او هېواد په سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي بهیرونو کې رغنده رول لري. په دغو بهیرونو کې د ښځو مشارکت پراختیا اغیزناکه کوي او ټولنه خپل بشپړتیايي (د زېږون، ودې، بلوغ او غوړېدا) پړاوونه وهي.

تېر اته کاله په افغانستان کې د ښځو د سیاسي او ټولنیز غورځنګ په برخه کې خورا مهم او برخلیک ټاکونکي دي. افغانه ښځه اوس د کور له دايرې راوتلي او د ټولنې او نړۍ په دایره کې د پرمختګ مزل وهي. افغان ښځو په تېرو اتو کلونو کې د افغان دولت د پراخې پاملرنې په ادانه کې، د خپلو حقونو د حصول او په ټولنه کې د حضوري اغیزو په برخه کې خپلې وړتیاوې په زباد رسولې دي.

همدا اوس د افغانستان په دولتي او نادولتي بنسټونو کې د ښځو سلنه دېره شوې ده:

| ونډه | په سلنه |
|---|---|
| په لویه جرګه کې | ۲۰٪ |
| د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې ګډون | ۴۰٪ |

| | |
|---|---|
| ونډه په ولسي جرګه | ۲۷٪ |
| په مشرانو جرګه کې | ۲۲٪ |
| د سولې په ملي مشورتي جرګه کې | ۲۵٪ |
| د دولت په کارکوونکو کې | ۲۱٪ |
| د دولت د تصمیم نیونې په کچه کې | ۹٪ |
| په امنیتي سکتور کې | ۵٪ |
| روغتیا  سکتور کې | ۲۴٪ |
| په عدلي او قضایي سکتور کې | ۱۰٪ |
| په زده کوونکو کې | ۳۷٪ |
| په ښوونکو کې | ۲۸٪ |
| د پوهنتون په محصلانو کې | ۱۸٪ |
| د پوهنتونونو په استادانو کې | 15% |

د افغان ښځو لپاره د ملي کاري پلان(نپوا) د پلیتابه د چټکتیا په موخه، د ظرفیت لوړاوي تر سرلیک لاندې د تمویل وړ درې کلن پروګرام پلې کول د ښځو چارو وزارت په راتلونکو پلانونو کې شمېرل کېږي.

ددغه پروګرام موخه د جنسیت یا جندر د تساوي د ودې په موخه د دولت او دغه راز ښځو پیاوړي کول دي، چې هغوی د خپلو اړوندونو وزارتونو په پلان جوړونه، پالیسي جوړونه، پروګرام جوړونې، بودجې جوړونې، څار، ارزونې او د رپوټ ورکولو د سیستم کې شاملې شي.

تبلیغ او عامه پوهاوی، ظرفیت جوړول او څار او ارزونه ددغه پروګرام مهمې برخې دي.

د عامه پوهاوي په برخه کې د ټولنې افرادو ته روزنه ورکوي، چې په اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا ( مسلکي زده کړو، لیک لوست زده کړې، کار موندنې، د مهارتونو پراختیا، د اوبو او بریښنا مدیریت، صنایعو، کرنې او د بېخبناوو پراختیا) کې د ښځو د رول په اړه  وپوهیږي. د ظرفیت جوړونې په تړاو د نپوا د تطبیق په موخه د ښځو چارو او نورو وزارتونو د ظرفیتونو پراخول اصلي هدف دی.  دغسې د څار موخه داده، چې ایا د افغان ښځو لپاره ملي کاري پلان پلې شوی او د پلان د پلیتابه په بهیر کې څه ستونزې وې، چې نوې تګلاره غوره شي او که بریالی وي، چې لاپسې پراخ شي.

دغه پروګرام به په وزارتونو او نورو اړوندو سیمه ییزو دولتي ارګانونو کې د معمولي پروګرامونو د یوې برخې په توګه د نپوا ( د افغان ښځو لپاره ملي کاري پلان) د پلیتابه ځواک بنسټیز کړي. همداراز ښځو ته به دا فرصت برابر کړي، چې په پراختیایي فعالیتونو، لکه ښوونې او روزنې او نورو مسلکي زده کړو کې برخه واخلي.

له دې لارې توقع وړ پایلې دولتي خدماتو ته د ښځو غوره لاسرسی، په اقتصادي او نورو فعالیتونو کې د ښځو اغیزناک رول او د غوره ظرفیت رامنځته کول، د جندر د تساوي یا ښځو د ځواکمنتیا په برخه کې د ملي او نړیوالو ژمنتیاوو د پلیتابه لپاره د دولت پیاوړي کول او د ښځو اړوند پروګرامونو د لا پیاوړتیا په او په بېلابېلو برخو کې د ښځو د ګډون په اړه د عامه ذهنیت روښانه کول دي.

په تیره لسیزه کې افغان میرمنو د فوټبال، فوټبال، او باسکیټبال په شمول په مختلف ډول ډول سپورټونو کې برخه اخیستې ده. په 2015 کې افغانستان خپل لومړی ماراتن درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ماخذونه :

Wikipedia/women rights in Afghanistan

د اساسي قانون ۳۳- ۳۶ ، ۵۰ ، ۵۲ مادې

ښځه ، کورنۍ او ټولنه ۱۳ صفحې

## پنځم څپرکی

### ښځه او تعليم

### د ښځو تعليم د اسلام له نظره!

د اسلام په سپيڅلي دين کې د ښځو پر تعليم او زده کړې هېڅ ډول ممانعت نشته، نه په قرآن کريم کې د ښځو پر تعليم بنديز لګول شوی او نه هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې؛ بلکې ددې برعکس د اسلام په دين کې د علم او پوهې فضيلت بيان شوی دی، لکه چې د قرآن کريم لاندې آيت شريف په همدې خبره ګواهي ورکوي:

ژباړه: (ای محمده! ووايه چې ايا پوهان او ناپوهان سره برابريدلی شي؟!)

په پورتني آيت کې دا حقيقت په ګوته شوی چې الله تعالی هغو خلکو ته غوره او بهتر ويلي دي چې د علم او پوهې له نعمته برخمن وي، پدې آيت شريف کې دا نه دي ويل شوي چې د علم زده کړه يواځې د سړو لپاره ده؛ بلکې پدې کې په مطلق ډول د علم او پوهې اهميت ښودل شوې چې ښځو او سړو ته يو ډول ارزښت لري.

سپيڅلی اسلام د نړۍ لومړنی دين دی چې پر ښځو او سړو يې د علم ترلاسه کول يو شان فرض کړی دی. د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث شريف دی چې علم ترلاسه کول پر هر مسلمان نارينه او ښځه فرض دی. څرنګه چې ښځه د انساني ټولنې له نيمې نه زياته برخه تشکيلوي نو يوه ښځه تر هغې خپل ټولنيز مسؤوليت په سمه توګه نشي ادا کولی چې د ديني او دنيوي علومو په ګاڼه نه وي سنباله شوی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د سړو ترڅنګ د ښځو پر تعليم هم زور اچولی دی، لکه چې حضرت ابو برده له خپل پلار نه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کوم سړی چې خپلې وينزې ته د ښه تعليم او تربيې له ورکولو نه وروسته هغه چاته په نکاح کې ورکړي؛ نو د هغه له پاره دوه اجرونه دي. (بخاري)

همداراز رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو ښځې په دې خبره ډیری وستایلې چې دهغوی حیا ددین له زده کړې نه منع نه کړل. (مسلم)

ددین ټول علماء په دې خبره په یوه خوله دي چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له ځلورو نه د زیاتو ښځو سره د نکاح کولو اجازه په دې موخه ورکړی وه چې هغوی نورو مسلمانو ښځو ته د دیني علم په ورزده کولو کې مرسته وکړي.

ځرنګه چې د اسلام دین نر او ښځو دواړو لپاره نازل شوی او دواړه د الهي قانون په منلو کی یو ډول مکلفیت لري؛ نو ددې زده کول هم د دواړو یو ډول مسؤولیت دی.

که چیرته ښځې هم د طب په علومو پوه وي او د ښځو د ناروغیو د معاینې او تشخیص ترڅنګ د ضرورت په وخت کې د جراحي عملیاتولو قابلیت هم ولري؛ نو د نیمایي ټولنې اړتیاوې به یې پوره کړی وي، همداراز که چیرته د اکسرې، التراساوند، سټي سکن او لابراتوارونو په څانګه کې مسلکي ښځې موجودې وي؛ نو نه یوازې دا چې د ښځو حساس او ستر ځایونه به له نارینه ډاکترانو نه ستر وي؛ بلکې د طب په ډګر کې به هم د ښځو لپاره غټ سهولت وي.

ښځې د علم او پوهې زده کړې ته په دې خاطر هم زیات ضرورت لري چې هغوی د خپلو اولادونو د پالنې او روزنې وظیفه پر غاړه لري، هغه مور چې ددیني او عصري علومو له نعمته برخمنه وي هغه په آسانی سره کولی شي چې خپل اولادونه د دین او دنیا په اوچتو معیارونو سره وروزي؛ قلم او کتاب په لاس کې ورکړي او دهغه علمي، اخلاقي او معلوماتي سویه اوچته کړي.

د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم په ځرګندو ټکو کې فرمایلی دي چې په خلکو کې هغه څوک غوره دی چې نورو خلکو ته یې ګټه رسیږي، ښځه چې د انساني ټولنې نه بیلیدونکی برخه ده هله د خپلو خویندو لپاره د ګټې او خیر کارونه کولی شي چې دیني علوم یې هم ویلي وي او عصري علوم یې هم، تر څو پورې چې له دیني علومو نه خبره نه وي نو نه ځانته دیني ګټه رسولې شي او نه بل چاته، همداراز که عصري علوم یې نه وي ویلی هغه نه ډاکتره جوړیدلې شي او نه نرسه، نه د لابراتوار متخصصه کیدلی شي او نه هم د التراساوند، نه په حساب او کتاب پوهیږي او نه هم د صحت په اصولو او د ژوندانه په نورو کارونو.

څرنګه چې د افغانستان وګړي د نړۍ له پرمختللیو وسایلو نه مستغني نشي پاتې کیدلی او خامخا دهغوی ترلاسه کول غواړي؛ نو ځکه ددې خبرې شدیده اړتیا لیدل کیږي چې د اسلام په چوکاټ کې د افغانستان ښځې د دیني علومو ترڅنګ په نورو علومو کې هم مهارت پیدا کړي تر څو خپلې ټولې دیني او دنیاوي اړتیاوې پخپل هېواد کې دننه پوره او د نورو له محتاجۍ نه ځانونه خلاص کړي، د همدغو دیني او دنیاوي ملحوظاتو ته په پاملرنه حزب اسلامي افغانستان د هلکانو په څېر د ښځو تعلیم او تربیه هم له خپلــو لـــومړیتوبونو څخه ګڼي، مونږ خپلو ټولو مسلمانو خویندو ته بشپړ ډاډ ورکوو چې کله هم موږ ته د ولس د رایو له لارې د خپل ولس د خدمت کولو فرصت په لاس راشي؛ نو ښځو ته به نه یواځې د حیا او عزت په فضأ کې د تعلیم ښه زمینه برابره کړو؛ بلکې دهغوی نور هغه حقوق به هم خوندي کړو چې لاتراوسه تر پښو لاندې شوي دي.

**د نجونو تعلیم**

تعلیم د هر انسان بنیادي حق دی او څوک هم باېد له دې محرومه پاتې نه شي. قران پاک کې الله پاک فرمایي: (ایا برابر دي هغه څوک چې پوهه لري او هغه څوک چې پوهه نه لري.) د بشریت ستر لارښود حضرت محمد (ص) هم فرمایلي دی: د علم طلب په نر او ښځه دواړو فرض دی، که چېرته تعلیم کول عېب وي نو ولې یې بیا نارینه کوي؟ او که ښه وي نو بیا ولې د نجونو مخنیوی وشي؟ د فرانسې د ناپلیون څخه یو ځل چا پوښتنه وکړه چې د فرانسې د پرمختګ لپاره څه شي ته ډېره اړتیا ده؟ د ناپلیون ځواب و چې تعلیم یافته مېندې. یانې د ښځو د تعلیم نه پرته یو ځای او هیڅ ټولنه پرمختګ نه شي کولی.

مهاتما ګاندهي وایي د یو نارینه روزل، یو شخص روزل دي مګر د یوې ښځې روزل بیا د ټول ملت روزل دي او همداسې پاچا خان بابا وایي، د اسلام سپیڅلي دین علم په نر او ښځه فرض کړی دی خو له بده مرغه بیا هم د دین په نوم زمونږه نجوني له تعلیمه محرومې پاتې کیږي. انګلیسي کې معقوله ده که یو کلن پلان لرې نو وریژې وکره، که دې لس کلن پلان وي یو نیالګی کېنوه خو که سل کلن پلان لرې خلک په تعلیم وروزه زمونږ د وطن د حالاتو په لیدو خو ځکه اوسنی ولسمشر اشرف غني هم د ښځو په تعلیم ډېر ټینګار کوي او وایي نجونې په تعلیم روزل نسلونه په تعلیم روزل دي.

که خپلې ټولنې ته وګورو ډېر وخت که د یو ماشوم پلار تعلیم یافته وي مګر مور یې تعلیم ونه لري هغه ماشوم به ناولی ګرځي، هر وخت به کوڅو کې ورک وي، د مشر احترام به نه کوي خو که چېرې برعکس مور تعلیم یافته وي او پلار بې سواده د هغوی واړه بچي وګورۍ! چې څنګه اخلاق به لري مشر ته به هر

وخت سلام کوي، نظافت به يې پاک وي. بې تعليمه ميندې تل نورو ته محتاجې وي، که زوی يا لور يې ناجوړه شي دومره به نشي کولی چې د ډاکټر د نسخې سره سم خپلو بچو ته په ټاکلي وخت دوا ورکړي. بې تعليمه مېندې د ټولنې لپاره داسې وي لکه په جامو کې رېه ځکه هغه له ورايه ښکاره مالوميږي. خدای (ج) ښځو ته هم د نارينه په څېر يو شان ذهنونه ورکړي نو بيا ولې دوي له تعليمه محرومه پاتې شي؟

که اوس وخت کې د ځينو اسلامي هيوادونو پرمختګ وګورو لکه اندونيزيا، ترکيه، ايران... په دې هيوادونو کې د ښځو د تعليم کچه زياته ده او که افغانستان يا ځينې نورو وروسته پاتې هيوادو ته مو پام شي عمده علت يې جهالت او بې سوادي ده ځکه خو د خوښۍ په ځای په کې وحشت او جهالت روان دی.

تعليم يافته ميندې د يوې کورنې، ټولنې او هيوا لپاره ستر نعمت دي خو د افغانستان ډيرو ښارونو او کليو کې د نجونو لپاره د ښوونځيو دروازې هغومره خلاصې نه دي لکه څومره چې پکار ده. پکار خو دا ده چې هر افغان خپله خور او لور ښوونځي ته پريږدي او تعليم پرې وکړي او حکومت هم بايد داسې زمينه ورته مساعده کړي چې د ټولو نجونو ښوونځيو ټګ کې د دوی عزت خوندي وي او شرايط ورته داسې برابر وي څنګه چې اسلام او افغانيت يې تقاضا کوي.

**ډاکټر نورالله درمان وايي** : ماته يوه ورځ يوه ښځه راغله ويې ويل چې ښځينه ډاکټره شته ، ماته ورته وويل چې لور دې مکتب وايي

هغې وويل چې نه

ما ورته وويل چې ښځينه ډاکټره به له کومه شي .

**د ښځو د تعليم پر وړاندې ټولنيزې نظرونه:**

**۱ـ مخالف**

**۲ـ موافق**

**مخالف :**

ددې نظريه خاوندان د ښځو تعليم هيڅ ضرر نه ګڼي ، او دليل دا وړاندې کوي چې ښځو ته کومه نفقه په سر ده چې تعليم کوي . که مونږ دوی ته د تعليم اختيار ورکړو نو څه مطلب ځکه چې دوی د تعليم غرض

بل دی او زمونږ بل ، ښکاره ده چې د کسب او کار ضرورت سړي ته دی او نه ښځې ته . نو په دې وجه د ښځو تعلیم د وخت ضایع کول دي .

تعلیم یافته ښځې اکثره آرادې ، بې باکه ، بې حیا ، مکارې ،او بد چلنده وي.

**موافق :**

دوی وایي چې اسلام ښځو ته د تعلیم حق ورکړی دی ( اقرا باسم ربک الذي خلق ، خلق الانسان من علق ، اقرا و ربک الاکرم ، الذي علم بالقلم ، علم الانسان مالم یعلم )

ژباره (ولوله ! په نوم رب خپل چې پیدا کوونکی دی ، پیدا یې کړ انسان د وینې له ټوټې څخه ، ولوله ستا رب کریم دی ، هغه چاچې علم د قلم په واسطه علم وښوده ، او ویې ښودل انسان ته څه چې پرې نه پوهېده .)

رسول الله ص فرمایي (د علم زده کړه پر هر مومن ښځینه او نارینه قرض دی. ) اسلام خپل پیروان د بیلا بیلو علومو زده کولو ته هڅوي چې تر څو مسلمانان علم حاصل کړي او خپل ژوند لوړو درجو ته ورسوي.

که ښځې پوهه ولري نو کولای شي چې خپل اولادونو ته ښه روزنه ورکړي اولاد به باشعوره، با ادبه او نېک عمله وي.

**د ښځو د زده کړې پر وړاندې ستونزې**

**امنیتي ستونزې**

د څو لسیزو راهسې افغانستان د دېرو داخلي او بهرني عواملو په اساس د بې امنۍ په جال کې راګیر دی او نا امني اوس هم روانه ده، چې له امله یې د ژوند ټولې برخې ټکنۍ دي،خو ترټولو مهمه ستونزه بې امنیتي ده چې د هېوادوالو هوساینې ،سوکالۍ ،ارامتیا او پرمختګ په وړاندې یې زیات خنډونه را زیږولي دي. دغه بې امنیتي چې د ژوند په ټولو خواو یې اغیز ښندلی خو د زده کړې په بهیر کې یې زیاته اغیزه د

انجونو په تعليم بانديې اچولې ده چې د انجونو د بې سوادۍ لامل شوی دی، تر ټول غوره مثال يې د انجونو پر مخونو بانديې د تيزاب شيندل يا پاشل دي د ښوونځيو ته دانجونو د تللو مخه نيولې ده.

**اقتصادي ستونزې**

څنګه چې په مخکې د اميني ستونزې څخه يادونه وشوه همدې امنيت په اقتصاد هم اغيز کړی دی، د هېواد اقتصاد مو په خارجې مرستو ولاړ دی نو د هرې کورنۍ د اقتصادي کمزورۍ له امله والدين نشي کولې چې د اولاد لګښتونه پوره کړي، نو زياتره بچيان يې د تعليم پر ځای درانده او شاقه کارونه کوي او انجونو ترڅنګ هلکان هم د زده کړې څخه بې برخې دي، چې د زده کړو څخه بې برخې وې، او هغه کورنۍ چې اقتصاد نيم ژاندی دی هغوی بيا يواځې په هلکانو باندې زده کړي کوي چې بيا هم انجوني له زده کړو څخه بې برخې دي. ځينې کورنۍ ښه پياوړی اقتصاد لري مګر د ښځو تعليم ورته بې معنی ښکار او وايې ښځه د پردي کور ده.

**کلتوري ستونزې**

په اکثره پښتنو سيمو او د بې سوادۍ له امله زيات خلک خپلې لوڼې ښوونځي ته ليږل شرم بولي او داهم بهانه کوي چې هلکان ښوونځی وايې انجونو ته اړتيا نشته، دا ډول خلک د خپل کهول او خپلوانو له پېغور څخه ډار او ويره لري، ددې ترڅنګ زيات داسې بهرنې عوامل هم شته چې د خلکو په زړونو کې يې له ښوونځي څخه کرکه پيدا کړې ده. لکه په اطرافي سيمو کې د ښوونځی څخه د يوې نمې نجلۍ بد نامه کيدل، په اقليت برخه کې په اخلاقي فساد اخته کېدل، د کور ټليفون په ناسمه توګه کارول او په بعضې سيمو کې دهلکانو لخوا ازار ورکول دي.

**اجتماعي ستونزې**

ټولنيز ژوند باندې بيا هم اقتصاد او بې سوادۍ زيات اغيز کړی دی، چې ښځينه طبقي ته پکې ياخو خپل حق نه ورکول کيږي، چا يواځې د کور پورې محدوده کړي، څوک يې بيا ذليله طبقه بولې، ځېنې بيا په کورکې د لور پيدا کيدل شرم بولي او چا ورته د انسانيت نظر هم کړی.تر دې حد که کومه ښځه د حق د غوښتلو اقدام هم وکړي هغې ته له نورو ښځو لخوا سپين سترګې او بې شرمه هم ويل کيږي ؛ نو همدا لاملونه دي چې زياتره اندازه ښځې د د ټولنيز ژوند له حقه محرومې دي، چې په همدې ټولنيزو حقونو کې دهغوي د زده کړي حق هم تر پښو لاندې شوی دی .

**د ښځو پر وړاندې د اسلامي زده کړو ناسم پوهاوی.**

هغه خلک چې علم او پوهه نه لري هغوی د انجونو تعلیم ته په ښه سترګه نه ګوري او وايي چې اسلام نجونو ته د زده کړې اجازه نده ورکړې نو ښځې باید درس ونه واي او په کورونو کې کیني د کور کارونه سرته ورسوي تعلیم ورله ضرور ندی، نو که له اسلام څخه خبر شي په قران کې د ښځو د ژوند او حق په سورت النساء کې په پوره تفصیل سره بیان شوی دی، ښځې د سړیو لپاره د (قوامون) په کلمه کې پایګا بللی دی او په ښځې د سړیو لپار لباسونه او سړی د ښځو لپاره لباس ذکر شوي دي.

**محیطي ستونزې**

په ټولنه کې د تهذ یب د ناسمې کاروني له امله یواه اندازه پوه او د علم خاوندان د ښځو د زږه کړې پروړاندې خپله ستونزې دي، په ښوونځیو کې د ځېنو ښوونکو غیرې اخلاق چلند، د انجو څخه د ناسمو اړیکو غوښتني لکه په پوهنتونونو او دارالمعلیمینونو کې د انجو قصدي ناکامي، یا د اجباري واده غوښتنه او د هلکانو لخوا ازارول دي. په زیاته اندازه داسې ښوونځي هم شته چې د هغوی موجده شرایط اوسر پنا او احاطي د دیوالونو نشتوالی دی چې انجوني نشي کولای خپلې زده کړې پرمخ یوسي.

**د والدینو له لورې مخه نیول**

اکثره والدین بې سیواده وي دوی د تعلیم په ګټه نه پوهیږي په ژوند کې د تغیر احساس نه لري،همداډول د خپل اولاد لپاره په راتلونکې کې سمه برنامه ریزي نشي کولی دې ته یې پام نه وي چې زما اولاد به د تعلیم په وجه د عزت والا وي،که زده کړې وکړي نوژوند به یې د درناوي وړ او سوکاله وي، بې سواده خلک اکثریت د مادې ګټې په لټه کې وې او هغه چې په چاپریال کې د تعلیم یافته خلکو د زده کړو محصول له مادې نظره منفي وي نو د خپل اولادنو راتلونکې هم ورته منفي ښکارې، همدا د دولت لخوا دبې کارۍ لامل دی چې په بې سوادۍ یې یوه اندازه منفي اغیز کړی دی.

**د مکاتبو نه شتون**

لومړي خو دخرابې اوضاع له امله دولت ددې توان نه لري چې په هره سیمه کې جلا د نجونو ښوونځې جوړ او ښځینه ښوونکې پکې وګمارې،خو که کوم ځاې کې د نجونو مکتب شتون ولري او دخلکو توقع ور څخه کیږي په هغه اندازه دولت ورته لاس رسی نه لري، او د کیفیت له مخې هم په پوره اندازه څه چې په هېڅ حساب دي. او هغه کیفیتي زده کړې پکې نشته کومې چې مطلوب دي.

**ښځينه ښوونکو نه شتون**

ښځينه ښوونکي د زده کړنيزو مرکزونو لاسته راوړنه ده کله چې په يوه سيمه کې د نجونو ښوونځي نه وي نو هلته ښوونکي نه فارغيږي او د بې امنۍ، ضعيف امکاناتو له امله د بلې سيمې نه کومه ښځينه ښوونکې هم راتلو ته زړه نه ښه کوي ، پدې ستونزمنو شرائطو کې ښوونکي ځان مصؤن نه ګڼي او زده کونکي د نارينه ښوونکو نه د خطر احساس کوي، په ځينو ځايونو کيداشي دښځينه ښوونکو نشتون يوه بهانه وي ځکه ښه مثال په ښوونځيو کې د بيسکټ او غوړو ويشل و چې په ښوونځيو کې د نجونو دشموليت اندازه لوړه وه .

**د ادارې او استادانو نه پاملرنه**

په دولتي چو کاټ د نجونو ښوونيز بهير هيڅ ډول پاملرنه نه ده شوي، هغه استادان چې هيڅ مسلکي زده کړې نه لري او يا يې عمرونه زيات دي د نجونو ښوونځيو ته معرفي کيږي ښوونکي او اداره هم د نجونو د زده کړې لپاره سم پلان نه لري او نه يې د نجونو تعليم لپاره خپل رول په کار اچولي دي ،دمکتب اداره بايد په ټولنه کې د ښځينه زده کونکو نه د دفاع په موخه خپل رسالت او مسؤليت سرته ورسوي، د ټولنې او والدينو منفي ذهنيتونو درملنه وکړي.

**لازمو اسانتياو کمښت**

د نجونو زده کړيز نظام په وړاندې يو خنډ لازمو اسانتياو کمښت دی، چې له امله يې ټل د نجونو څخه زده کړې نيمګړې پاتې وي نو دوي لپاره کورني،ټولنه او دولت هر اړين او لازم وسايل او سهولتونه اماده کړي چې په ملتيا يې وکولي شي خپلو زده کړو ته لاره پيدا کړي.

**ماخذونه :**

روهي ويب پانه ښځه او تعليم

تاند ويب پانه د نجونو تعليم

د جنت کالي ۸۰ صفحه

روهي ويب پانه

## شپږم څپرکی

### ښځه او کار

### په اسلام کې د ښځو د کار کولو حکم

په اسالم کې کار له ښځې او نارينه و دواړو څخه مطلوب دی او اسلام هر چا ( نراو ښځې دواړو ) ته بېلې بېلې دندې ور سپارلي او دا دندې د هغوی له فطرت سره سمې ټاکل شوې دي ، خو نه خو دښځې فطرت له هر ډول کار سره برابر دی اونه د هغې دبدن جوړښت د هر کار لپاره شوې دی نو په همدې اساس اسلام ښځه له هر ډول شاقه ، درونـد اوسخت کار څخه وبخښله او ښځې ته يې عزت ورکړ او د هغې لپاره يې خوراکه ، جامه او د ژوند ټولې اړتياوې په خاوند يا نورو نژدې خپلوانو لازم کړلې مګر د انساني فطرت د ښمنانو ښځه په کار مجبوره کړله هغه يې په زور بر ته و وېستله او دژوند له ستونزو سره يې لاس په ګريوان کړله .

کارل مارکس د کمونېزم بنسټ اېښودونکی وايي : ( ښځه د خپل ژوند د پايښت لپاره هرومرو بايد کار وکړي .)

ښځه هم انسان دی او نارينه هم ، ښځه له سړي څخه پيدا ده اوسړی له ښځې څخه .

الله ج فرمايي : ( بعضکم من بعض ) .. ال عمران ۱۹۵

ژباړه : ( ځيني ستاسي له ځيني نورو يئ . )

انسان ژوندی موجود دی او طبيعت يې هم داسې عيار شوی دي چې دخپل بدن د جوړښت په نظر کې نيولوسره کار وکړي م تحرک وکړي م فکر وکړي او که داسې نه وي نو بيا خو انسان نه شو .

الله ج هم انسانان د کار لپاره پيدا کړی دی ، بلکې عمل او کار يې د خلقت هدف ښودلی دی .

(ليبلوکم ايکم احسن عملا )

ژباړه : ( چې وازمويي تاسې چې کوم يو له تاسو ډېر ښه دی د عمل له مخې . )

فاستجاب لهم ربهم ان الاضيع عمل عامل منکم من ذکر او انثی .) ( ژباړه: ) پس قبولې کړلې دوی ته رب د دوی ، بېشکه زه چې يم نه ضايع کوم عمل د هيڅ عمل کوونکي له تاسې نه نارينه وي که ښځينه .)

ښځې ته په اخرت کې هم په ښه کار ثواب او بدله ورکول کېږي ، او په دنيا کې هم .

ښځه نيمه انساني ټولنه ده ، نو له اسلام څخه داهيله نه شي کېدلی چې نيمه ټولنه ګوډه ، شله ، بېکاره ، عاطله او باطله اعلان کړي او داسې يو حديث او آيت هم نه موندل کېږي چې له کوره بهر دښځو د کار حرمت ترې استنباط شي .

نو ويلی شوو چې په عمومي ډول ښځو ته کار روا دی ، ان په ځينو وختونو کې ورته مستحب او فرض هم دی لکه کونډه يا طلاق شوې ښځه چې د کار انرژي هم لري ، اولاد هم ولري او د ګټې بله مرجع هم ونه لري ، او کار ته هم محتاجه وي يا ورته واړه ورونه او خويندې پاتې وي ، يا يې پلار سپين ږيری وي يا يې مېړه بې وسه وي ، نو په دې ټولو صورتونو کې په ښځه لازم دي چې د کورنۍ د بار د اوچتولو لپاره کار وکړي ، لکه د حضرت ابوبکر صديق رض ، لور ، حضرت اسماء به چې له خپل خاوند سره هر ډول مرسته کوله ، اس به يې ورته ساته ، په سر به يې ورته بار وړه .

ځينې وختونه ټولنه د ښځو کار ته جدي اړه شي بياهم په ښځه لازم دي چې ټولنې ته د مرستې لاس ورکړي مثالً : دښځينه ناروغانو تداوي ، د انجونو لپاره ښوونه او روزنه او داسې نور ، خوبايد يو ځل بيا هم وويل شي چې د ښځې د کار لپاره مهم ځای دهغې خپل کور ، د اولادونو روزنه ، دکور حفاظت او دکور چارې دي ښځه چې په دې دايره کې څومره ګټوره تماميږي په بل يو ډګر کې هم دومره برياليی نده او همدا نېکمرغه ژوند دی مګر که بيا هم ښځه له کور څخه بهر لکه دفتر کې ماموريت ، يا کار خانه کې کار کوي نو ورته روادي خو بايد د اسلام هغه قوانين بشپړ مراعات کړل  شي چې ښځو ته يې بهر ته د وتلو په وخت کې ټاکلي دي .

همدا راز ښځه چې کوم کار کول غواړي نو بايد چې هغه کار په خپل ذات کې ناروا نه وي او نه داسې چې حرام کار ته لار هواروي لکه له ځوان سړي سره دېردې پېغلې يو ځای اوسېدل د خدمتګارۍ يا ... په توګه يا د داسې چا سکرتريت چې يواځې توب ورسره راځي يا په فلم ، ډرامو ، تياترو کې رقص او نڅېدل

یا په ساقي خانه کې پیالې وېشل یا په الوتکه کې میلمه پاله یا .... باید په خبرو او حرکاتو کې اسلامي اداب مراعات کړي .

قل للموء منات یعضضن من ابصارهن)

ژباړه : ( ووایه ایماندارو ښځو ته چې ښکته ساتي سترګې ، خپلې ، ساتنه دې کوي د شرمګاهو خپلو او نه دې ښکاروي زینت خپل مګر هغه چې ښکارېږي ، له دوی څخه اوښایي چې وادې چوي پړونی خپل په خپلو ګریوانونو باندې ... او نه دې وهي پښې خپلې د دې لپاره چې معلوم کړل شي هغه شي چې پټوي یې دوی له زینت خپل څخه . )

اسلام خو ښځه په سخت کارنه مجبهوروي او نه یې هغه له کار څخه منع کړې ده ، اسلام په هر کار کې اعتدال څخه کار اخلي افراط او تفریط دواړه محکوموي او دښځې کار کول یې هم د ښځې په خوښې پورې اړوند کړل ، که چېرې هغه په خپله خوښه کار کول غواړي نو اسلام یې مانع نه ګرځي ، او که هغه ونه غواړي چې کار وکړي یا له کور څخه بهر ووځي نو څوک یې په زوره مجبورولی نه شي دا د اسلام د مهربانۍ او رحمت لویه نښه ده ، ځکه چې که اسلام ښځې هم هغو ستونزو ته مخ کړې وای کومو ته یې چې نارینه مخ کړي دي نو دا به د ښځې د مصلحت او خاصیتونو ضد کړنه وه .

**کومو لاملونو ښځه کار ته وتلو ته اړه کړله ؟:**

دا چې کومو لاملونو ښځه کار ته وتلو ته اړه کړله څېړونکي په دې هکله اختلاف لري .

همدارنګه دا کوم اسباب وو چې ښځې ته یې د کور ، حمل او زېږون دنده ورکړله آیا دا بیولوژیکي اسباب وو که فزیکي چې نارینه ته یې ډېر توان او قدرت ورکړ او ښځې ته کم او که دا ټولنیز ، کلتوري یا تاریخي لاملونه وو چې د دنیا ټولې چارې یې د نارینه و په لاس کې ورکړلې .

دکتور محمد ساالله ادم په دې هکله او ده څېړنه کړې ده ، هغه لیکي پخوا د ټولنې ظروفو او شرایطو د دې اجازه نه ورکوله چې ښځه کار ته و وځي او زده کړه وکړي خو کله چې حالات او شرایط برابر شول او بهر ته د وتلو اجازه یې ورکړله نو ښځې هم د کار ډګر ته راووتلې د ښځو بهر ته د وتلو لوی او عمده سبب دټولنې غوښتنه وه .

د ټولني دې غوښتني هغه اړه کړله چې طب او حکمت زده کړي ځکه ښځه حيا کوي چې خپل علاج په نارينه ډاکټر وکړي خصوصاً د ښځينه ځانګړو ناروغيو علاج او يا هغه ته خپل عورت وښيي نو دټولني د دې ستونزې حل دهغې د وتلو لامل شو .

په خپل مسووليت پوهه او خپله دنده پيژندل ، دا وزګار وخت ډکول ، په عام ژوند کې ګډون د کورنۍ اقتصادي ستونزه پورته کول ،م په ټولنه کې د خپل حيثيت لوړوالی دا ټول اسباب را يو ځای شول او ښځه يې بهر ته وتلو ته اړه کړله دا چې د ښځې د کار فايدې ډېرې دي او که زيان او تاوان په لنډ ډول به ورته ګوته ونيسو .

**الف : د ښځې د کار ګټې**

دښځې د کار ګټه يا زيان له يوې ټولني څخه تربلې ټولني توپير لري که چېرې ټولنه سالمه او صالحه وي او دفطرت له پلوه له ايښودل شويو پولو څخه تېرې و نشي نو دښځې بهر ته وتل ګټه لري چې دا ګټه د هغه سبب لاس ته راتلل دي کومو چې هغه بهر ته په وتلو اړ وستي وه مثالً : د هغې ټولني ښځې به نارينه ډاکټر ته له ورتګ څني خلاصي شي د ښځې د ځانګړيو ناروغيو چې اکثره يې نارينه وته ښکارول څه چې حتی ويل هم نشي علاج به دښځو په واسطه وشي .

ښځې به له کلتور ، تمدن اومعرفت سره اشناشي .

اسلام خو هم ښځې له وتلو څخه بلکل نه دي منع کړي مګر هغه وتل يې بد ګڼلي چې بې ضرورته وي ، تفريح کوي ، پارکونو ، ټالونو ته ځي او په کوڅه او بازار کې په ناز او نخرو ګرځي ، دا هم لويه ګټه ده چې ښځې خپل مسووليت وپيژني او کله چې اوزګارې ناستې وي پردي غيبتونه کوي ، دا ورته ښه ده چې په دې وخت کې څه مصروفيت پيد اکړي انسان نارينه او ښځينه دواړو ډلو ته ويل کېږي او ښځه هم نيمه ټولنه ده نو که ښځه په عام ژوند کې له خپل مېړه يا کورنۍ سره څه مرسته وکړي نو دا خو بده نه ده کومې کورنۍ چې د غړيو له مخې هم ګڼې وي او اقتصادي حالت يې هم کمزورې وي که ښځه وغواړي چې داسې يو کار وکړي چې هغه يې له عهدې څخه وتلی شي او اسلامي اصول هم مراعات کړي نو ممانعت

نشته نن سبا زموږ په ټولنه کې د ښځې د حيثيت د راپريوتلو غټ لامل دا دی چې هغه تيارخوره ګڼلی شي نو که هغه ټولني ته خدمت وکړي نو طبعي ده چې حيثيت به يې لوړ شي .

او ځومره چې د هغې په اولاد پورې اړه لري دکتور محمد سلاله ادم وايي ! کارکوونکې ښځې خپل اولاد ته د استقالل او شجاعت وخت او موقع ورکوي هغه له عملي ژوند سره مخ کوي هغه زيږوي او تکړه اموخته کيږي ، ځکه چې هغه له بهر نړۍ سره تماس لري د کار کوونکې ښځې حس په کارو کې ډېر وي لکه د کور په کار کې ، په زده کړه کې ، د ژوند په نورو ساحو کې او همدا احساس خپل کوچني ته منعکسوي او دا احساس په هغه کې ډېر تاثير راولي کومه ښځه چې کار کوي هغه له خپل کوچني سره په مينه مخ کيږي او مينه او محبت ورسره ډېر کوي او کوم وخت يې چې له هغه ځيني بېل تېر کړی دی د هغه بدله ورهرځوي .

يو امريکايي عالم نای ))NYE۱۹۶ م کال کې وايي چې د کار هرې ښځې زوی ډېر تکړه او د ژوند د ستونزو په زغملو کې تر هر چا وړاندی وي .

**ب : کارته د ښځې د وتلو زيانونه**

کله چې چاسره ذاتي تمانع نه وي او نه ورسره د مذهب څه فکر وي ، امنيتي تدابير هم نه وي ، مجرم ته لازمه سزا هم نه وي ، نو رښتيا چې هلته د ښځې بهر ته وتل ډېر ضرر لري دې ضرر ته خو مو مخکې اشاره هم وکړه لکه چې هلته عياشي ډېره شي هر څوک يې د ځان لپاره ګټي او خوري يې ،

کورنی نظام له منځه ځي ، څوک د بچي زيږولو ستونزه پر غاړه نه اخلي ، د انساني نوع جرړه ختميږي .... دکتوره ابدالين وايي : ( په اروپا کې خو د ښځې کار کولو کورنی اقتصاد ښه کړ مګر د اخلاقو مستوی يې ټيټه کړله هلته چې ښځې په کار کې ستړې شي د بچيانو مينه خو يې هسې هم په زړه کې نه وي نو بيا خپل قهر او غصه په هغوی سړوي .)

په ۱۹۶۷م کال د برطانيې په يو روغتون کې ۶۵۰۰ کوچنيان داخل د بستر وو چې مورګانو يې وهلي وو په هغو کې له سلو څخه شل مړه شول په امريکا او اروپا کې داسې روغتون نه و چې د کوچنيانو دا ډله په کې داخل دبستر نه وه ځيني يې په کې کانه ، ګونګيان او وړانده شوي هم دي .

**ماخذونه :**

بنځه او اسلام ۵۰- ۵۳ ، ۶۰ – ۶۱ صفحې

## اووم څپرکی

### ښځه او سیاست

د علومو د اکاډمی د غړي مولوي محمد اعظم (طارق)په وينا ، چې د هیواد د اساسي قانون پر بنسټ ،ځان کاندیدول او یا بل کاندید ته رایه ورکول، د ټولنې د هر وګړي ښځې او نارینه حق دی. مولوي طارق زیاتوي: د اسلامي شریعت پر اساس که چیرې یوه ښځه د اسلامي قوانینو او شریعت په چوکاټ کې د ټولنې ، خلکو او دین په لاره کې د خدمت ملاو تړي ،نو هیڅ خنډ ورته نه شته . لکه چې د اسلام په پیل کې امهات المسلمین حضرت عایشې (رض) د ۳۰۰۰ پوځ مشري پر غاړه اخیستې وه او دا د دې ښکارندویي کوي، چې ښځې په سیاست کې فعاله ونډه اخیستلای شي.

همداشان دیني عالم محمد حسن حقیار هم د بي بي عایشې(رض) ګډون په جګړه کې د مثال په توګه بیانوي او وایي: ((د اسلام په پیل کې ښځو او نارینه وو د سترو کارونو د ترسره کېدو لپاره په جوماتونو کې مشورې کولې، چې له وخت سره سم د سیاست په بڼه کې بدلون راغلی او اوس دغه چارې په پارلمان کې ترسره کېږي.)) دا ټولې څرګندونې د دې ښکارندویي کوي ، چې ښځې هم کولای شي په سیاسي ،ټولنیزو ،روغتیایي،ښوونه او روزنه ، قضایي ،نظامي اونورو چارو کې ونډه واخلي او دا هم ثابته شوې، چې ښځو په دې ټولو چارو کې خپله وړتیا هم ښودلې .

که د نړۍ پرمخ تللو هیوادونو ته ځیر شو، په ټولنیز ژوند کې ښځې له نارینه و سره یو ځای د ورځنې ژوند دپرمخ بولو لپاره اوږه په اوږه دخپلو همسیالو سره ونډه لري ،ښځې په ډیرو کارونو کې د نارینه و په پرتله مثبت رول لوبولی شي،همدا سببونه دي چې دغو هیوادونو ډیر زیات پرمختګ کړی دی ،ځکه چې په ټولنیزو ،سیاسي ،روغتیایي او ښوونیز او روزنیزه او ..... برخو کې یې ښځې له نارینه وو سره یو ځای په کار لګیا دي ،له بلې خوا په اسلامي هیوادونولکه عربستان، ایران ،پاکستان ،اندونیزیا، ترکیه د منځنۍ آسیا هیوادونه او نورو کې هم ښځې له نارینه وو سره د ژوندانه په ټولو برخو کې په کار لګیا دي ، خو کله هم کوم چا د دوی دا ونډه غیر شرعي او غیر اسلامي ونه بلله.

خوله بده مرغه زموږ په ټولنه کې بیا تل هرې پدیدې ته د ځینو په لید په منفي ډول کتل کیږي . د تیرو کلونو ترخو تجربو دا څرګنده کړې ، چې د مغرضو او اسلام او هیواد دښمنو لخوا د اسلام له مقدس دین څخه په بیلابیلو نومونو ګټه پورته شوې او وسیله ګرځیدلی. په ټولنه کې سربیره پر دې ټولو ستونزوښځې پۍ دې هڅه کې دي ، چې د ټولنې پۍ ټولو چارو کې برخه واخلي او خپل ګټورتوب ثابت کړي.

له بلې خوا په پارلمان کې د ښځو ۲۵فیصده شتون او د ۵ ملیونو رای ورکوونکو ښځو پیغام دا دی ،چې په هیواد کې د ښځو د یووالي او پیوستون خوځښتونه پیل شوي او د شکل نیولو په حال کې دي ، چې نارینه دې ته اړ باسي، چې د ښځو حقونو او د هغوی ګډون ته د ټولنې په بیلابیلو برخو کې جدي پاملرنه وکړي او د ښځو نظر، د ښځو پریکړې او حضور، نور له سمبولیکې او فیشني بڼې څخه را ووځي او په رښتیني بڼه په سیاسي او ټولنیز ډګر کې په ګټورتوب سره را څرګندې شي، تر څو وروسته له دې نه یوازې زموږ خویندې په ټولنه کې له خپل نه موجودیت څخه رنځ یونسي او نه هم د نړیوالي ټولنې تر نیوکو لاندې راشو.

**په انتخاباتو کې د ښځو ونډه :**

د افغانستان ټول اتباع ، ښځینه وي او که نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق لري او د هیواد په سرنوشت سازو پریکړو کې د ارادې ، نظر څرګندل ، د انتخابیدلو او انتخابولو حق لري .

ښځې د افغانستان د نفوس عمده برخه تشکیلوي او د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ، ښځې لکه سړي حق لري ترڅو د ټاکنو په بهیر کې رأیه ورکړي او د خپل سیاسي برخلیک په ټاکلو کې ونډه واخلي.

هره ښځه کولی شي چې ګواهي ورکړي ، که چیرته په کومه قضایي دوسیه یا شخړه راشي نو ښځه مکلفه ده چې ګواهي ورکړي ، البته که د شخړي په محل کې وي او علم ولري .

انتخاب هم یو ډول ګواهي ده ، که غواړې چې ځان معلوم کړې نو ځان انتخاب کړه .

ښځه هم کولی شي چې ځان انتخاب کړي او هم کولی شي چې رای ورکړي . اسلام کې د امت نمایندګي کول د ښځو او نارینو ته یو شان دي ، البته ولسنشري نشې کولی .

**ماخذونه :**

کليد راديو ښځه او سياست

ښځه ، کورنۍ او ټولنه ۶۲ صفحه

افغانه ښځه ! مدرنيت ، اسلام او عنعنه ۱۰۰ صفحه

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اتم څپرکی**

**ښځه او ټولنه**

ټولنه اوښځه دوه نه بیلیدونکی نومونه دی چې یو دبل دمکمل او بشپړوونکي حیثیت لری، تمدن دعلم او معرفت دپرمختګ محصول دی. څومره چې په یوه ټولنه کی علم عام وی په هماغه اندازه دمدنی ژوندانه په لور ګړندي ګامونه پورته کوی څکه چې دمور غیره یوه داسی ارزښتناکه مدرسه ده چې دمملکت دترقي او پرمختګ او دټولنې دپه ځان متکی کیدلو لپاره داسی افراد ټولنې ته وړاندي کوی چې دهېواد په پرمختګ کې په زړه پوري ګټه لری. همدا علت دی چې د اسلام سپیڅلي دین دعلم زده کړه په نر اوښځې دواړو یوشان فرض کړیده.

دحضرت ابوهریره(رض) ام المومنین حضرت عایشه(رض) په روایت حضرت رسول اکرم(ص) فرمایلی: ژباړه: په عام مفهوم سره ښځې اونارینه دواړه په کښې شامليږی او خطرات محدثين په وضاحت سره فرمايي چې ددغه مبارك حديث اطلاق په نر اوښځې دواړو كيږي او دعلم زده كړه په نر اوښځې دواړو يوشان فرض شويدي خوځينی سرتمبه خلك په دي كلك ولاړدي چې ښځو ته دعلم زده كړه اصلاً په كارنه ده چې بيا په كاروي هم دومره ورته په كار ده چې خپل ضرورت پري رفع كړي.

**د ښځې مقام په ټولنه کې**

ښځه د بشري يوه نه بېلدونكي برخه ده ، په دې كې شک نشته چې ښځه نه وی نو بشري عالم به نه وی ،د نړی او افغانستان د عالمانو پوهانو ، متفکرينو ، ټولنيز او سياسي فعالانو او د نورو بريالي كسانو په منځ ډېرې ښځې دي ، او يا ښځو په خپل لمنو كې روزلي دي .

يوه مشهوره وينا ده چې د كاميابه سړي تر شا يوه ښځه وي . دې ښځې له هغې سره په ټولو كارونو كې مرسته كړې او كوي يې . ښځه يا ميندي دي چې په كورنيو او ټولنه خپله د مور ولۍ دنده تر سره كوي او خپل بچيان روزي ؛ يا په ټولنيز او سياسي چاپيريال كار او فعاليت كوي او يا هم په ښوونځيو او پوهنتونو

کې په خدمت بوختې دي . دغه بېلګې دا خبره جوتوي چې که ښځو ته کاري فرصتونه برابر شي نو له نارینه و سره اوږه په اوږه او حتی تر هغوی په ښه توګه کاراو فعالیت کولی شي .

**د ښځې رول په ټولنه کې :**

زمونږ ټولنه افغاني ټولنه ده ، داسې ټولنه چې اسلام او عنعنات پکې قوي موقف لري . په اقتصادي لحاظ له دینه انکار نشي کېدای چې د ښځو رول دلته واقعاً د سخت اهمیت وړ دی ، ځکه چې له مسلسلو ۳۰ کلنو جګړو ، مهاجراتونو ، مرګ ژوبلې ، فقر ..... افغاني ټولنه دیته ضرورت لري چې له خپلو موثرو کاري کدرونو څخه ( که ښځېنه وي او نارینه ) اعظیمه استفاده وکړي .

د تعلیم نشتوالی د دی باعث شوی چې حتا هغه ښځې چې د کورنی په چوکات کې د خپلو اولادونو پالنې ته کافي وخت هم لري نشي کولای چې په موفقه توګه د خپلو اولادونو پالنه او روزنه وکړي .

ګورو چې د داسې محول ماشومان یو شمیر اخلاقي او سلوکي ستونزې لري ، هم میندې نشي کولی ټولنې ته مثالي اولاد وړاندې کړي .

امآ باسواده مېرمنو عملاً د هیواد په اداري فعالیتونو کې ښه ونډه اخیستې، دغه رول که څه هم ډیر محدود خو خپل وزن یې درلود ، او هم یې ماشومان تر بل هر محول اخلاقي او سلوکي وي .

مطلب دا چې ښځه کولی شي په ټولنه کې فعاله او هر اړخیزه ونډه واخلي ، داسې ونډه چې مذهب او کلتور سره په ټکر کې نه وي او نه د دې مادي او معنوي حیثیت یې په کې خوندي وي .

**لور که زوی**

لور او زوی د الله (ج) نعمت دی ، اکثره خلک لور د ځان پټی ګڼي او د هغې زده کړه عبس ګڼي، وایي لور خو د پردي کور وي یوه ورځ به لاره شي او زوی خو د بوډه والي همسا ده په همدې وجه نه د لور سالمې روزنې ته پاملرنه کوي اونه یې تربیه ته ، ان هغه میندې رټې چې لوڼې یې پیداکیږي .

لوڼي یوازې هغه متاع ګڼي چې د اړتیا پر مهال ترې ګټه واخلي او تر خپله وسه یې ګرانه وپلوري .

د زامنو راتلونکي ته چي څومره پاملره اوڅومره اندېښمن وي د لور په برخه کې بیاهیڅ فکراو اندېښنه ورسره نه وي .

اماّ له نیکمرغه  په تېرو څو کلو کې عامه پوهوی ډېر شوی دی لور ته هم د زوی په شان زده کړه ورکول کیږي .

**افغانه نجلۍ، ټولنه او دهغې له ستونزو ډک ژوند**

**افغانه نجلۍ او ټولنه!**

افغانه ټولنه یوه دودیزه ټولنه ده، که څه هم نورې نړۍ قبایلي ژوند پخوا ختم کړی، خو افغانان تراوسه پورې په دودیز ژوند او سستم کې روان دي.

په دې ټولنه کې د افغانه نجلۍ ژوند ډېر تریخ دی. په دې ټولنه کې د یوې نجلۍ ژوند د زیږېدو سره تریخ وي، ځکه چې کورنۍ یې په زیږېدنه هیڅ نه خوشحالیږي، په دې ټولنه کې هره کورنۍ او هر مور پلار د هلک په زیږېدنه خوشحالي او د نجلۍ په زیږېدنه د خپګان څرګندونه کوي.

د نجلۍ په دې ټولنه کې د سترګو غړولو سره د هغې سره توپیري چلند پیل کیږي. دې ټولني تل هلک ته په نجلۍ برې ورکړی او هلک یې له نجلۍ غوره ګڼلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې اسلام ښځو ته ډېر حقونه ورکړي دي، خو پښتنه ټولنه یوه داسې ټولنه ده، چې که څه هم ټول په ټول وګړي یې مسلمانان دي، خو د ښځو په حقونو یې بیا ځانونه غلي کړي دي او دې ټولني هیڅ کله هم افغانه نجلۍ ته خپل حقونه نه دي ورکړي.

سعادت حسن منټو وایي، ((هر تن په بستره نجلۍ غواړي، خو هیڅوک هم لور پیدا کول نه غواړي))، دا خبره په دې ټولنه ډېره ښه اپلایي کیږي.

که هلک هر څه وکړل، خو هلک هلک دی، هغه ته دا حق لري، خو که نجلۍ له دروازې دباندې هم ووته، نو د هغې قتل بیا روا کیږي. دا ټولنه په ډېرو وړو وړو خبرو نجلۍ وژني، تر څو خپل غېرت په ټولنه کې ښکاره کړي او خپل برېت تاو کړي، چې داسې یو د غېرت! کار یې کړی دی.

**افغانه نجلۍ او زدکړې!**

د افغانې نجلۍ د ژوند یوه لویه او مهمه ستونزه د هغې زدکړې ته نه پرېښودل هم دي.

که څه هم اوس مهال ډېرې خلک چې ښاري ژوند ته یې مخه کړې ده، هغوی د زدکړو پر اهمیت پوهېدلي دي او خپلې لونه او زامن یو ډول مکتبونو ته لېږي او بیا دواړه په شریکه لوړو زدکړو ته هم لېږي، تر څو په ټولنه کې ژوند وکولای شي.

خو بیا هم زیات شمېر پښتانه او افغانان په قبایلي سستم پورې تړلي دي او زیات خلک اوس مهال هم په کلیو کې ژوند کوي. لومړی خوټولنه افغانه نجلۍ ته دا حق نه ورکوي چې زدکړې وکړي، ځکه تل همدا خبره کوي، چې نجلۍ د پردي کور ده او باید چې فقط د کور کارونه زده کړي.

افغانه نجلۍ له پیدا کېدو سره په دې فکر کې وي، چې هغه د یو چا لپاره پیدا شوې او باید چې د هغه لپاره ژوند وکړي، ټول عمر د نورو خدمت وکړي، د سرو د پښو لاندې ژوند وکړي او هن تر دې، چې که څه ناروغي هم لري نو کورنۍ ته یې څرګنده نه کړي، ځکه که داسې څه ناروغي او څه خبره مخې ته راغله، نو بیا به یې څوک نه ودوي.

نو په داسې حال کې، نجلۍ له زدکړو پاتې شي او ټول ژوند یې په تیارو کې تېر شي.

که ځیني کورنۍ نجلۍ زدکړې ته هم ولېږي، خو له څلورم پنځم صنف وروسته یې په کور کېنوي او وایي به چې بیا به یې څوک نه ودوي. یا داسې هم کېږي چې وایي، ولس به څه وایي چې په لونو زدکړه کوي.

یوه مهمه ستونزه دا هم ده، چې په ټولنه کې چې افغانه نجلۍ زدکړو ته لېواله وي او کورنۍ یې هم غواړي چې په انجونو زدکړې وکړي، نو بیا هلته مسئله دا وي چې بهر په لارو کوڅو کې هلکان انجونو ته ناسته وي او زیاتو سیمو کې هلکان په انجونو پسې اوازونه هم کوي او تنګوي یې هم، دا نو داسې یوه ستونز ده چې زیاتې کورنۍ بیا له دې وجې نه غواړي چې خپلې انجونې مکتبونو او پوهنتونونو ته ولېږي او زدکړې ترلاسه کړي.

نو په بچو زدکړه کول چې په نورو ټولنو کې یو د غېرت کار دی، هغه په دې ټولنه کې د بې غېرتۍ کار ګڼل شوی دی، نو هم دا وجه ده چې افغانه نجلۍ په زیاتو سیمو کې له زدکړو بې برخې او پاتې شوې ده.

**افغانه نجلۍ او په ناخوښه توګه یې واده!**

د افغاني نجلۍ په ناخوښه واده هم یو له مهمو ستونزو څخه دی.

اسلام نجلۍ ته دا حق ورکړی دی، چې په خپله خوښه واده وکړي. که یو هلک یې نه وي خوښ، نو باید چې له واده انکار وکړي. خو زموږ په ټولنه کې بیا داسې ناشونې ده. که یوه افغانه نجلۍ له واده انکار وکړي نو هم وژلی کیږي، په دې تور چې دا خو ((فاحشه)) ده، ځکه چې هغه هلک یې نه دی خوښ، نو ټول ژوند به ورسره څنګه تېروي؟

یا که کومه نجلۍ دا وغواړي، چې د خپلې خوښې سره سم واده وکړي، نو هم دا ټولنه ورته اجازه نه ورکوي، که ورونو یا پلار ته یې مالومه شي، چې افغانه نجلۍ د خپلې خوښې واده غواړي، نو هم د نجلۍ وژنه روا ده.

خو که هلک وغواړي، چې د خپلې خوښې واده وکړي، نو هغه حق لري، خو نجلۍ ته دا حق نه ورکول کیږي. دا د دې هم لامل شي، چې نجلۍ د خپل ځان د وژنې پرېکړه وکړي او په زیاتو سیمو کې داسې پېښې لیدل شوي دي، چې د ناخوښه واده په وجه، انجونو ځانوژنې کړي دي او خپل خوږ ژوند یې مرګ ته سپارلی دی.

یا هم که کومې انجونه دې ته زړه ښه نه کړي، چې خپل ځان مرګ ته وسپاري، نو یو داسې تریخ ژوند پیل کړي، چې نه هم په خپله ښه ورځ ویني او نه یې هم خاوند تري ښه ورځ ویني. چې دا نه یوازې د تولنې د شا تګ سبب کیږي، بلکې د کورنیو د تاوتریخوالي او د لانجو سبب هم شي.

**افغانه نجلۍ او د هغې سره کورنی تاو تریخوالی!**

کورنی تاوتریخوالی یو داسې څیز دی، چې زموږ په ټولنه کې یې ګڼ شمېر کورنۍ له لانجو سره مخ کړي دي. د افغاني نجلۍ سره زیات وخت کورنی تاوتریخوالی هم د کورنیو د مېرمنو له وجې راپیدا کیږي، خو د نجلۍ سره کورنی تاوتریخوالی هغه لامل دی چې د یوې افغانۍ نجلۍ ژوند یې تریخ کړی دی.

دا داسې یوه مهمه ستونزه ده، چې په ډېرې کورونو کې شته او د کورنیو ژوند هم د دې له وجې لانجمن شوی دی.

که تاسو د تېرو ورځو خبرونه په دقيق نظر وګورئ، نو تاسې ته به پکې داسې ډېرې خبرې مخې ته راشي، چې د کورني تاوتريخوالي له وجې يا هم ځينې ځايونو کې نجونو ځانوژني کړي وي او يا هم مېرمنو په کورونو کې افغانه نجلۍ وژلې وي.

د کورني تاوتريخوالي يوه وجه دا هم ده، چې کور ته يې ورندارياني راشي، نو بيا يې ورنداريانې غواړي چې په کور کې له انجونو څخه خپلې غلامې جوړې کړي، نو بيا ورته داسې پلمې جوړوي چې د انجونو ژوند ورسره تريخ شي او کورنی تاوتريخوالی رامنځ ته شي.

**په بدو کې ورکړه!**

د افغاني نجلۍ له پيدا کېدو سره د هغې د ژوند پرېکړې د سړو په لاس کې شي. که په ماشوموالي کې يې چاته ورکړه او که په بدو کې يې چاته ورکړه.

نجلۍ دا حق نه لري، چې هغه له دې انکار وکړي او دا ووايي، چې که بد يو سړی کوي، نو ولې يې هغه قرباني شي، ځکه چې په داسې وخت کې بيا د افغاني نجلۍ مرګ روا دی.

په دې ټولنه کې ټول عمر هم دا کېږي، چې يو هلک يا سړی څوک ووژني او يا هم داسې بل څه بد کار ترسره کړي، نو جرګه کېني او اخري خبره په دې وشي، چې د هغه هلک خور يا د هغه سړي لور، هغې کورنۍ ته په بدو کې ورکړل شي، چې ياد سړي يا هلک ورسره څه بد کړي وي.

دا نو بيا د دې نجلۍ لپاره د دوزخ په څېر ژوند پېل شي. کومې کورنۍ ته چې نجلۍ په بدو کې ورکړل شوې وي، هغوی بيا دې نجلۍ ته هيڅ د انسان په سترګه نه ګوري او تل ورته د يو غلام په سترګه کتلې شي.

د نجلۍ په بدو کې ورکول اخري کې دا پايله شي، چې يا هم هغه نجلۍ ځانوژنه وکړي او يا هم ټول عمر د يو تريخ ژوند تېر کړي، ټول عمر د ځاروو په څېر اوسېږي او ژوند يې له ستونزو څخه ډک وي.

**ښځه په پښتني ټولنه کې**

پښتانه خپل د وياړلي تاريخ په اوږدو کې، د دې په ځنګ کې چې هيڅ يو اشغالګر استعماري قدرت ته يې سر ندی ټيټ کړی او هيڅکله يې هم د ذلت ژوند يې ندی منلی، د ښځو لپاره د ټولنې د نه بيليدونکې برخې

په توګه د پیریو راهیسې چې په نړۍ کې د بشر او د ښځو د حقونو هیڅ خبره هم نه وه،ښځو ته خپل په ټولنه کې ډیر ښه مقام قایل شوی دی. پښتانه خپل د ټولنیز او سیاسي ژوندانه د تاریخ په بهیر کې، په ټولو ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي، دولتي اداره او آن په نظامي چارو کې پتمنې ښځې او نارینه بې له کوم تعصبه اوږه په اوږه کار او په ګډه هلې ځلې کړي دي. ښځې په مختلفو دورو کې په ټولو ټولنېزو برخو کې فعالې وې، په مختلفو ادارو کې په افغاني لویو سلطنتونو کې د ښځو لپاره د ښوونې او روزنې آسانتیاوې برابریدلې او هیڅ ډول تعصب لړ و. ښځې د پښتنو د ټولو سلاطینو او وحکمرانانو په سیاست او اداره کې حیاتي او فعاله رول لوبولی دی. د غوریانو د حکومت څخه کولای شو د سلطان راضیه چې په ۶۳۴ هـ کې په ټول هندوستان کې حاکمه شوه او د څوکلونو لپاره حکومت وکړ او په دهلي کې یې په خپل نوم سکه هم ووهله؛ په دغه دوره کې شاید په ټوله نړۍ کې کومه ښځه د یو غټ ملک حاکمه شوې نه وي. د امریکې د متحده ایالتونو په معاصر تاریخ کې چې ځان د دیموکراسي او بشري حقونو او په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو ټیکه دار او حامي بولي، هیڅ یوه ښځه نده توانیدلې چې په هغه هیواد کې ولس مشره شي.

۲۰۰ کاله مخکې په کلیو او باندو کې ښځې د کورڅخه باندې له نارینه وو سره اوږه په اوږه کار کړی، او خپل د کار په مقابل کې یې مزد ترلاسه کړی، په دی هکله څیرونکې «معصومه عصمتي وردک» په خپل کتاب کې «نقش و موقف زنان افغانستان» لیکي «احمدشاه بابا کارپوه ښځو ته په هیواد کې په حکومتي چارو کې د برخه اخیستنې اجازه ورکوله، دوی ته یې لقبونه وټاکل، په ځانګـــړې توګه د ښځو په اړوند او د ښځو د حقونو لپاره یې د فرمانونو د صادرولو حق ښځو ته تفویض کړ. چې کومه ښځه یې د یو کار لپاره ګمارله، مهرونه یې هم ورته جوړول؛ ترڅو هغه فرامین چې دغې ښځې صادرولی نور هم وزن او اعتبار پیداکړي. دغه نیک رسم د احمدشاه دراني د کورنۍ او تر هغه وروسته د سدوزایي او محمد زایي په سلطنتونو کې هم دوام وکړ.«

د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې ښځې په سیاست، اداره او د ظلم او یرغل په مقابل کې مبارزې او د خپلواکي په جګړو کې د نارینه وو په څنګ کې په ونډه اخیستلو سره ډیر مهم رول لوبولی دی.

زه غواړم د زرهاوو نوم ورکې ( ګمنامې) اتلې ښځې د جملې څخه د څو تنو نامتو ښځو څخه یادونه وکړم چې هر یوه په خپل وار سره وکولای شول د خپلواکۍ او آزادۍ په مقدسو جګړوکې په مستقیمه توګه ونډه واخلي، د خپل پت او عزت په دفاع کې کلک ودریږي، او کله هم د غتو سلطنتونو او امپراتوریو د جوړولو عامل وګرځي. د دوی کارنامې د افغانستان په ویاړلي تاریخ کې په زرینو کرښو ثبت شوي دي.

**د ښځو حقوق څوک تر پښو لاندې کوي :**

دا یو څرګند حقیقت دی چې په ټولو ادیانو کې یوازې د اسلام سپېڅلي دین ښځو ته ټول حقوق ورکړي دی. په داسې حال کې چې داسلام دراتګ نه مخکې د جاهلیت په زمانه کې ښځو ته د ژوندانه حق هم نه ورکول کېده، تردې چې خلکو به د پیغور له ویرې ژوندۍ ښخولې، او که کومه به ترې ژوندۍ پاتې شوه نو سره له دې چې سپکه او حقیره به ګڼل کېدله، یو حق به هم نه ورکول کېده، لکه د میراث حق، د ملکیت حق، د احترام او د عزت حق اوداسې نور.

د جاهلیت په زمانه کې به له یوې ښځې سره، په یو وخت کې ګڼو نارینه وو نا مشروع جنسي اړیکې نیولې او چې کله به یې ماشوم پیدا شو بیا به یې څېره پېژندونکی راوست او ماشوم به یې د دغو کسانو له ډلې څخه یوه ته منسوب کړ.

همدارنګه په اوسنۍ زمانه کې ، کفري نړۍ هم ښځو سره هماغه پخوانۍ وحشیانه کړنلاره او د حقوقو تر پښو لاندې کول په نوي شکل او بدله څېره ترسره کوي، نو دا یو روښانه حقیقت دی، چې غربي نړۍ ښځه له خپلو فطري او انساني حقوقو څخه بې برخې ګرځولې ده، یوازې د تجارتي اعلانونو او د مالونو د خرڅلاو لپاره ترې کار اخستل کېږي، ترهغه چې ښځه ځواني او ښکلا ولري، په تجارتي اعلانونو سره پرې د مالونو د څرخولو بازارونه او مارکیټونه چلوي، کوم شیان چې نه خرڅېږي هغه د ښځو په انځورونو خرڅروي. جنسي استفاده ترې کوي؛ خو کله یې چې عمر د مالوم حد څخه واوړي او پخوانۍ ښکلا او ځواني یې پاتې نه شي، بیانو د ټولنې د اوږو بار وي ځکه هاغه څه چې د ښځو په اړه یې دوی ته اهمیت درلود هغه اوس نه شي ترلاسه کولی، نو له همدې امله پوره له پامه وغورځولی شي.

نو ځکه اوس په غرب کې د باکرو انجنو شمېره بې اندازې کمه ده، او نشت سره برابره ده. علت یې دا دی چې د دوی د دیموکراسۍ د قانون پر اساس که چېرې د زنا دواړه خواوې سره موافقې وي، په زوره نه وي ترسره شوي نو هیڅ جرم یې نه ګڼي، نو همدا د زنا د جرم د مخنیوي قانون د نه شتون وجه ده، چې د ایډز وژونکې ناروغۍ په غرب کې د حده زیاته شوې ده نو ځکه دواړه لوري دغه ناکاره عمل بې له کومې ویرې ترسره کوي.

له هاغه مهاله راهیسې چې د اسلام مبارک دین سپېڅلې وړانګې په نړۍ کې وپرقېدلې، بشریت ته یې د جهالت د تورو تیارو څخه د وتلو لار وروښودله، ښځې ته یې هم لوړ مقام او هاغه ټول حقوق ورکړل چې ښځې ورته په خپل انسانی ژوند کې اړتیا درلوده . اسلام ښځې ته په لومړي ځل د ژوند کولو حق ورکړی

چې په ژوندون د خاورو لاندې کولو او وژلو څخه یې وژغورلې، اسلام نارینه ته امر کړی چې ښځی سره ښه چلند وکړی (وعاشروهن بالمعروف). اسلام ښځه دټولنی جوړونکی وبلله او هغه یې د کور نیکمرغي، د نارینه جامه، د نارینه او دوزخ ترمنځ پرده وګڼله، او د نارینه لپاره یې د مور، خور، مېرمنې او لور ارزښتناک حیثیت د مرګ تر مهاله ورپه برخه کړ.

رسو الله صلی علیه وسلم په یوه حدیث کې هغه څوک د کامل ایمان درلودونکی او بهتر ګڼلی دی چې له ښځو سره ښه چلند کوي: «أكمل المؤمنين إيماناً أحسنهم خلقاً، وخياركم خياركم لنسائهم» یانې کامل مؤمن هاغه څوک دی چې د ښه اخلاقو درلودونکی وی، او هغه څوک ستاسي له جملې ښه دی چې د خپلې کورنۍ لپاره ښه وي.

د اسلام په سپېڅلي کتاب قرآن کریم کې یو سورة د ښځو په نوم (سورة النساء) نومولی شوی دی، چې پکې د ښځو حقوق لکه د میراث احکام او له هغوی سره د انصاف کولو په اړه لازمي لارښووني بیان شوې دي. همدارنګه یو بل سورة د مریم رضي الله عنها په نوم نومولی شوی دی. همداسي د قرآن کریم په مختلفو ځایونو کې ښځو سره د ښه چلند، او د هغوی د مشکلاتو د حل لارې چارې په ګوته شوي دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم- په خپلو مبارکو احادیثو کې ښځه (مور) له نارینه (پلار) څخه درې ځلی په حق کې زیاته ګڼلې ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانان هڅولي دي چې یو بل ته پرښځو باندې درحم او هغوی سره د ښه چلند په اړه وصیت وکړئ فرمایلي یې دي: «استوصوا بالنساء خيرا» راوه البخاري ومسلم. ژباړه: یو بل ته دښځو په هکله ښه وصیت او سپارښتنه وکړئ.

که څه هم په اوسنی زمانه کې لکه څنګه چې په اروپا ، امریکا او کفري نړۍ کې د اسلام په ضد ډېر زیات منفي تبلیغات ترسره کېږي چې وایي اسلام ښځو ته پوره حقوق نه دي ورکړي، یا د ښځو سره ښه سلوک نه کوي، خو پخپله په همدوی کې ښځې تر نارینه وو ډېرې مسلمانیږي. په امریکا کی د هرو څلورو کسانو څخه چی اسلام قبلوي، درې یې ښځې وي. او د برتانیې د یو نیم ملیون مسلمانانو په منځ کی پنځه ویشت زره یې سپین پوستي انګریزان دي چې تازه مسلمانان شوي دي او جالبه یې لا دا چی په دغو کی د ښځو شمېره تر سړیو زیاته ده.

د ښځو د دې زياتو مسلمانېدلو وجه دا ده چې خلک کله منفي تبليغات واوري، نو دې ته اړ شي چې د اسلام پوره مطالعه او څېړنه وکړي، بالاخره ورته ثابته شي چې اسلام هاغسي دين نه دی لکه چې غرب يې انځوروي، بلکې يو سپېڅلی دين دی، چې د هيچا حقوق نه تلف کوي.

اوس غواړم چې ښځو ته د اسلام له خوا ځيني نورمهم ورکړل شوي حقوق هم په لنډه توګه، په لاندې ډول وړاندې کړم:

۳ـ د واده څخه وروسته د ښځې ټوله نفقه او پوښاک (جامه) هم اسلام د نارينه (مېړه) په غاړه اچولې ده، او ښځه يې د نفقې د درانه مسئوليت څخه معاف کړی ده. الله تعالی فرمايي : «وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف» [البقرة: ۲۳۳]. ياني او د ماشوم پر پلار باندې د هغه د شېدې ورکوونکې مور نفقة او جامې لازمې دی په نيکې طريقې سره.

همدارنګه په بل ايت کې الله تعالی فرمايي: «الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ» [النساء ۳۴]. ياني نارينه پر ښځو مسلط او اداره چيان دي له دې امله چې الله تعالی د هغوی ځينو ته پر ځينو نورو فضيلت ورکړی او له دې کبله چې نارينه خپل مالونه لګوي.

جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خلکو ته په خطبه کې داسې وفرمايل: «'اتّقوا الله في النساء، فإنّهنّ عَوَانٌ عندكم أخذتموهنّ بأمانة الله واستحللتُم فروجهنّ بكلمة الله ولهنّ عليكم رزقهنّ وكسوتهنّ بالمعروف» رواه مسلم. ياني د ښځو په هکله د الله تعالی څخه وډار شئ! داځکه چې تاسې دوی د الله تعالی د امانت په توګه اخيستي او د هغوی د شرم ځايونه مو د ځان لپاره حلال کړي دي نو په تاسې باندې د دوی خوراك او پوښاك لازم دی.

او په بل حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «وحقهن عليكم ان تحسنوا اليهن فى كسوتهن وطعامهن» رواه الترمذی. ياني ستاسو د ښځو حق پرتاسې دا دی چې هغوی ته ښه جامه او ښه خوراک برابر کړئ.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : «ثلاثة قد حرم الله عليهم الجنة مدمن الخمر والعاق والديوث الذي يقر فى اهله الخبث» رواه احمد والنسائی. ياني پر دريو کسانو باندې الله تعالی جنت حرام کړ ی دی د شرابو معتاد، د مور او پلار خفه کوونکی او دووس سړي، چې د خپلې ښځې د عفت پاملرنه نه کوي او پردي سړو ته اجازه ورکوی چې دهغه دښځې سره ناسته پاسته او راشه درشه وکړی.

بلکې داسلام مقدس دين امر کړی دی چې نارينه دې د خپل عفت او ناموس څخه دفاع وکړي او که په دغه لار کې څوک ووژلی شی نوهغه شهيد دی .رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «من قتل دون اهله فهو شهيد» روه الترمذي وابو داؤد والنسائي. ياني څوک چې د خپلي ښځې د عفت څخه په دفاع کې ووژلی شی نو هغه شهيد دی.

۵ـ همدارنګه اسلام ښځې ته د ميراث حقوق هم ورپه برخه کړي، چې له اسلام څخه مخکې د جاهليت په زمانه کې يې دغه حقوق نه درلودل.

۷ـ يو بل مهم حق چې اسلام ښځه ترې برخمنه کړې ده هغه د احترام او کرامت حق  دی، سړی بايد خپلې ښځې ته د احترام په سترګه وګوري او هاغه وينا او عمل ترسره نه کړي چې د هغې د خپګان او خواشينی سبب ګرځي، او دا ځکه چې ښځه يوه باعزته انسان ده او بايد دهغې سره د يوې مزدورې په څير چلند ونه کړی شي ، ښځو ته په سپک نظر کتل دا د کم اصلو او کم عقلو نارينه و کار دی. په يو حديث کې داسي راغلي دي: «ما اکرمهن الا کريم ولا اهانهن الا لئيم» رواه ابن ماجه. ياني عزتمند سړی د ښځو عزت کوي او سپک او رذيل سړي د ښځو سپکاوی کوی. مطلب دا چې د ښځو عزت کول د ځان عزت کول دی او دښځو سپکاوی د ځان سپکاوی دی.

۸ـ د ښځو تعليم د ښځو حق نه، بلکې يوه فريضه ده، چې علم په هر مسلمان (نارينه او ښځينه) باندې فرض دی. خو دا فرضيت به په هاغو شرايطو برابر وي، چې اسلام ښځو ته ټاکلي، او د ښځې عزت، ابرو او حيا نارينه و سره په مخلوطيت کې پايمال نه شي.

دعائشی رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «من ابتلی من هذه البنات بشئ فاحسن اليهن کن له سترا من النار» رواه البخاري ومسلم. ژباړه : چاته چې لورګاني ورکړی شوی وي او دې ورسره احسان وکړي (د هغوی ښه خدمت، پالنه او تربيه وکړي) نو دغه لورګاني به دده او ددوزخ داور ترمنځه به د يوې پردی په شان وي ياني دغه لورګاني به د دوزخ د اور څخه د ده د ژغورني سبب شی.

**د اميدوارو مېرمنو سره بايد څنګه چلند وشي :**

د اولاد لرلو له پرېکړې وروسته، چې کله مور او پلار د اولاد لرلو پرېکړه وکړه او په دوه اړخيزه توګه يې دا منله چې مور کولای شو يو اولاد ولرو او د هغه/هغې سمه روزنه وکړو، نو پلار بايد خپله مېرمن

په پرلپسې توګه د اړوندې ډاکټرې/ډاکټر تر درملنې لاندې ونیسي او د هغوی د مشورو سره سم کړنې ترسره کړي، اوس خو به ښايي داسې کسان نه وي، چې هغه عمومي او لومړني معلومات ونه لري، د اميدوارۍ پرمهال د دروند وزن پورته کول او ډېر کار کول او له ورته نورو کارونو ډډه کول دي، خو داسې نورې ستونزې هم شته دي، چې زموږ ټولنه ورسره مخ ده خو موږ يې حتا ستونزه نه بولو او ښايي ډېرو يې په اړه فکر هم نه وي کړی، هغه د مېرمنې اروايي نارامي ده، که هغه نارامه وي نېغ په نېغه پر ماشوم اغېز کوي، د مور خوراک، څښاک او حتا کړه وړه د مور په ګېډه کې د ماشوم پرټوليزې ودې اغېز کوي.

له سمو او ګټورو خواړو نیولې هان تر ځينو اړينو درملو پورې بايد يوه اميدواره مور د خپلې اميدوارۍ د سلامتيا په پار ولري، د دغو ترڅنګ آرامه او سوليېز فضا او چاپېرياڵ هم اړين دی، له اروايي فشاره د مور ساتنه او هغې ته راتلونکې ډاډ ورکول دا ټول هغه څه دي، چې په ډېرو عادي امکاناتو باندې يې ترسره کولای شو.

خاوند کولای شي، خپلې مېرمنې ته د مينې په ښوولو سره ډاډ ور په برخه کړي او حتا د ماشوم د راتلونکې په اړه ورسره بحث او مباحثه کولای شي، چې داسې او هسې به يې روزو داسې مينه به ورکوو، دغه خيالي نړۍ جوړول هم اميدوارې مېرمنې ته سکون ور په برخه کوي او که خاوند يې ورسره په مينه او محبت چلند وکړي، عاشقانه چاپېرياڵ جوړ کړي او ورسره د ورځنيو چارو په سمون او ترسره کولو کې مرسته وکړي، ښايي هغې ته يو ډول دننني ډاډ ورکړي او په ډېر غرور سره به خپل ژوند ته ادامه ورکړي، چې ښايي دا غرور يې د ماشوم د روغتيا، او ښې ودې په برخه کې ډېره مرسته وکړي.

د خپلې کوټې په ديوالونو د ماشومانو د انځورونو د ځوړلو سره تاسې هغې ته د ماشوم د سپېڅلې او مينه ناکې نړۍ په اړه خبرې کولای شئ، هغه به يې په ليدو خپل راتلونکی ژوند له خوښيو او مينې ډک ګڼي او له همدې سره به يې ذهن ارامه، خوشاله او ذهني سکون به يې هم په برخه وي. غواړم په لسو ټکو کې د اولاد د زېږون دمخه د ځينو چارو ترسره کول راونغاړم:

په کوټه کې د ماشومانو انځورونه د مور ذهن د ماشوم لرلو لپاره نور هم اماده کوي او له ځانه سره ورته خوشالياني زېږوي

مور ستړيا ته نه پرېښوول او هغې ته هر ډول اروايي سکون ورکول.

له مېرمنې سره د خاوند خوشاله، ملاتړی او مینه ناک چلند.

د کورنۍ چاپېریال خوشاله او آرامه ساتل او د کورنۍ نور غړي د امیدوارۍ پرمهال د ستونزو، دردونو او نورو کړنو په اړه خبرول، چې که د امیدوارې مېرمنې څخه کومه تېروتنه وشي، باید ځواب یې ستوغ او تېر ورنکړل شي، د ښېرته ورځوابولو پرځای یې حالت درک کړای شي او په حوصلې یې په مینه ناکه لهجه پوه کړي.

د ماشوم روزلو په اړه له امیدوارې مېرمن سره بحث کول او دماشوم لرل یې د دواړو لوریو د مینې ډېروالی ښوول وګڼې.

د اولاد راوړل باید د کورنۍ ښېرازي وګڼي او ورته خوښ بینه اوسي، چې په راتګ سره به یې کورنۍ ښېرازه کېږي، نه دا چې داسې فکر ورکړای شي، چې په راتګ سره یې کورنۍ غالمغالي او مېرمن ستړې کېږي.

د امیدوارې مېرمنې د خوړو او پرځای غوښتنو پوره کول او په خپلسري ډول د هر ډول درملو نه خوړلو توصیه کول.

د امیدوارې مېرمن حالت درکول، خاوند باید د خپلې مېرمنې حالت درک کړي او ښایي له هغې څخه ځینې ناسم عکس العملونه ترسره شي، خو باید په سړه سینه یې په مینه ورځواب کړي او په ارامې یې پوهه کړي.

د امکان په صورت کې د منظرو لیدل او ارام ببنونکي او ښکلي ځای ته وړل او چکر ورکول.

د خاوند له خوا ورته د پوره ډاډ او ملاتړ احساس ورکول.

په ټولیز ډول دا ویلای شم، چې د ماشوم تر زېږون دمخه باید ټولې خوښۍ، مینه او مرسته د ماشوم مور ته ورکړل شي، ځکه چې په مور باندې هر ډول سم او ناسم حالات نېغ په نېغه د ماشوم په ودې او روان اغېز کوي.

**د ښځې او نارینه ترمن توپیرونه**

**الف : بیولوژیکي توپیرونه**

دنارینه روغتیایي حالت د ښځې په انډول ښه وي ځکه چې په هغه کومه ټاکلې ناروغي نه راځي کومې چې پر ښځې راځي .

د حیض او نفاس حمل او زیږوني ، د تي ورکولو ، د کوچني د روزنې اغېزې د ښځې په بدن پریوځي : مثالاً : په حیض کې د ښځې بدن پر هغې درنېږي د تودوخې درجه یې ټیټیږي ، هاضمه یې خرابیږي ، د بدن غړي یې سستیږي په هرو سلو کې(۳)2 ښځې په حیض کې درد نه لري نورې ټولې له دې دردونو څخه ځوریږي .

علي القاضي د نور سکستشنسکي ، امیل لورک ، لاینسکي ، فان دی فلدا ، میل نورالک ، ګبهارد ، کرسي شکنسکي ، کرافت ایبنو ا و داسې نورو مشهورو ډاکترانو او پوهانو نظریات را اخیستي دي چې لنډیز یې دادی .

ښځې ته په حیض کې سردرد ، ستوماني ، د اندامونو سستي ، دهډوکو

درد ، د اعصابو کمزورتیا ، په مثانه کې پریشاني ، له بدهضمی څخه شکایت ، په سینه کې درد ، دتنفس سرعت ،م د طبیعت ګډوډ واله او پرېشاني لکه چې ښځه ډېره ناروغه وي ، له نامه څخه لاندې درد چې د زړه تنګوال به ورسره وي پیداکیږي ژړېدونکې به وي ، فکر خراب وي ، سکون ، اطمئنان ، سوکالي ا و آراموالی ورسره نه وي ،م خپل ورځنی کار نشي کوالی ، دبدن غړي یې د ارادې تابع نه وي مثالاً : که کاتبه وي پوره ټایپ نه شي کوالی ، د یو ټکي په بدل بل ټک وهي جمله جوړوالی نه شي ، غیر اختیاري کار ترې وشي ، پدې ورځو کې به ډېر جنګ او لانجې کوي ، د هغې له اخلاقو څخه به په دې ورځو کې هر څوک شکایت کوي ، حتی د هغې اولاد هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډاکټر ( وينزج ) د خپلو مشاهداتو په رڼا کې ليکي : کله چې د ښځې له پلوه محکمې ته کوم شکايت کېږي نو ودې ګوري ښايي چې هغه د حيض په وخت کې وي ،ځکه چې په دې موده کې د هغې اعصاب کار نه ورکوي ، او دحمل په موده کې هم څو مياشتې کله ناروغه وي او کله روغه او د ولادت څخه وروسته ) نفاس کې( هم د ښځې هغه حالت وي کوم چې په حيض کې وي .

ډاکټر( هيولاک ايلس اوبرت مول ) ليکي : ښځه بايد د حمل په وروستى مياشت کې نه دکور کار وکړي او نه د دفتر همدارنګه د نارينه اندامونه کلک او غښتلي وي پلني او پراخه اوږې لري ، وره او تنګه ګېډه يې وي ، د بدن شحميات ( وازدې ) يې په مناسب ډول په بدن کې وېشل شوې دي ، ږيره او بريتونه يې راشي اواز يې غټ او غليض وي ،م مګر ښځه نرمه او ګرده وي ....

**ډاکټر شفيق عبدالملک ليکي :**

ښځه ښکلې بڼه لري ، تيونه يې په مناسب ځاى کې دي چې د کوچني د تغذيې لپاره مناسهب او ښايست او ښکلا کې زياتوالى راولي ، ګرده بيه غوره کړي عورت يې په مناسب ځاى کې دى چې کوروالى ، حمل او تناسل ته ښه برابر دى او څنګه چې دښکلا غوښتنه ده هماغسې يې اواز نرم دى.

د نر او ښځې ترمنځه د غړو په اړوند نولس(۱۹)توپيره دي ، د نارينه ماغزه د ښځو له ماغزو سره توپير لري ، پدې هکله يو عالم چې په کال کې يې د نوبل جايزه واخېستله ډيهره څېړنهه کړېهده يهو تهه يهې نارينهه ماغزه اوبل ته يې ښځينه ماغزه نوم ورکړى دى .

الله ج انسان ته څنګه چې د ښکلا غوښتنه ده ښايسته بڼه ورکړه ، څه چې نارينه په ښکلا کې ډېرښت راولي هغه يې نارينه ته ورکړل ، او کوم څه چې د ښځې په ښکلا کې ډېرښت راولي هغه يې ښځې ته ورکړل .

فرمايي : (لقد خلقنا الانسان فی احسن التقوم )

**ژباړه** : په تحقيق سره مو پيداکړى دى انسان په ښه اندازه سره ( همدارنګه د وزن له نظره نارينه دروند او د اوږد قامت خاوند دى د نر هډوکي کلک او غښتلي دي ښځه د نرپه پرتله ژر لويېږي بدن يې ژر وده کوي د ښځې بدن د نر په انډول د وازدې د ذخيره کولو ډېر قابليت لري ، په نارينه کې وازده په سلو کې اتل( ۱۸٪ ) او په ښځو کې(۲۸ ) ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library


علي القاضي وايي چې : د هر انسان په بدن کې ۶۰ میلیونه سوري دي مګرکه په مایکروسکوب کې ځیر شئ پیژندل يې شئ چې دا د نارینه د بدن سوري دي او دا د ښځې .

**ب: سیکلوژیکي توپیرونه**

د عین الشمس پوهنتون کې د علم الفس( اروا پیژند نې) استاد دکتورسید فواد البهی‌لیکي : انجلی د خپل عمر د مراهقت تر دوري له هلک ځیني هوښیاره او ځیرکه وي م له مراهقت څخه تر بلوغ هلک هوښیار وي او وروسته بیا دواړه برابر وي .

دوه غربي پوهان د هلکانو او انجونو ترمنځ د ازموینې د نتیجې تر کتلو وروسته وايي چې دا دواړه ډلې په نمرو کې سره برابرې دي .

په هر حال د نر اوښځې ترمنځ توپیرونه علماوو روښانه کړيدي ، لکه د ښځې عاطفه : نرم طبیعت ، د اسرارو ( پټو) نه ساتنه ژر تر اغېزې لاندې راتلل په وړه خبره خفګان او خوشحالي ښځې په ستاینه او غندنه کې تر هر چا مخکې ، په مدح او ثنا کې پیاوړې دي ، بې له کوم دلیل او پلټنې څخه چې څه واروي نو هغه مني صبر او تحمل نه لري .

**ج: فزیولوژیکي توپیرونه**

د نارینه اواز سخت ، غټ او غلیظ دی او دښځې اواز نرم او لنډ دی ، د غدو او زړه ناروغي په ښځو کې ډېره وي ، ډاکټران وايي چې : د دې لامل حمل ، حیض ، نفاس ( والدت) او رضاعت ( تي ورکول) دي .

دا و د ښځې او نارینه و ترمنځ مهم توپیرونه چې فطرت په نر او ښځه کې پیدا کړي دي .

**ماخذونه :**

**انيس ويب پاڼه ښځه او ټولنه**

**افغانه ښځه ! مدرنيت ، اسلام اوعنعنه ۲۰ – ۲۱ صفحې**

## نهم څپرکی

**ناوړه دودونه:**

**ولور :**

ولور د لوړ قیمت مانا ورکوي او کوم شرعي جواز هم نه لري .

په ټولو ځایونو کې ولور یو شان نه وي ، په مشرقي ولایتونو کې له نیکمرغه ولور د نشت سره برابر دی ، که ولور واخلي هم ډېر لږه اندازه هغه هم د جلۍ په جهیز کې مصرفیږي . اما په جنوبي ولایتونو کې ولور ډیر زیات دی .

یوه وجه خو یې دا ده که په لوړ لږ ولور واخلي نو خلک جلۍ ته پېغور ورکوي چې ته خو بې ارزښته وې او پلار دې مفته ورکړې .

دوهمه وجه داده چې پلار یې ځکه ډیر ولور اخلي چې د ولور په پیسو زوی ته واده وکړي او یا هم په کوم کار شروع کړي .

معمولاً د لوړ ولور په ورکولو سره پلار خپله لور سپین ږیري اویا معیوب ته هم ورکوي .

**د اسلام نه مخکې د جاهیلت په زمانه کې به ښځې خرڅېدلې هر چابه چې کومه ښځه خوښه شوه نو د هغې قیمت به یې ادا کړ او هغه ښځه به یې کور ته بوتله ، ددې ښځې ټول واک به هغې سړي سره وه .**

**پایلې :**

په ډیر ولور اخستلو سره د ښځې معنوي او مادي ارزښت له منځه ځې .

له خپلو ډېرو حقوقو څخه محروميږي .

ډير هغه ځوانان چې لوړ ولور تاوان نلري ، مجبوريږي چې خپل نفسي خواهشات له ناروا اړيکو پوره کړي .

دېرې پيغلې د لوړ ولور له کبله کلونه کلونه د پلار په کور کې ناستې وي .

زما په نظر ډير ولور د ټولنې وروسته والی او ناپوهي ده . افغانه ښځه! مدرنيت، اسلام او عنعنه(۸۷-۸۶صفحه)

د بدل ودونه:

کومه کورنۍ چې د واده مصرف نه لري ، نو هغه کورنۍ د بدل واده ته زړه ښه کوي . د بدل ډوډ داسې دی چې مقابل لوري وايي ته دې خپله لور زما زوی ته راکړه او زه به مې خپله لور ستا زوی ته درکړم.

**پايلې:**

که کوم طرف په خپلې ښځې ظلم کوي ، نو هغه بل طرف يې غچ د خپلې ښځې اخلي ځکه چې هغه ددې په بدل کې تللې ده . داسې وادونه اکثره بريالي نه وي او نه په شرعيت کې جواز لري.

په بدو کې ورکول:

په بدو کې د جلۍ ورکول ، دا ډوډ داسې دی چې که چيرته د يو چانه څوک په قصد يا سوا کې ووژل شي نو د مړې کورنۍ ته به بد ورکوي ، هغه بد يوه يا دوه انجونې وي ، چې د مړې کور ته به يې ورکوي ، که چيرې کومه کورنۍ انجونې ونلري نو بيا به بيسې ورکوي چې معمولا دا پيسې لس يا پنځ لس لکه وي.

**پايلې:**

کومه پيغله چې پّ بدو کې ورکول کيږي هغې سره ښه چلند نه کيږي ، البته په ځينو کورنيو کې د وخت په تيريدو سره بيا هغې سره هغسې بد چلند نه کيږي.

د هغې جلۍ ارمانونه د خاور سره يو شي ، او هر حقوق څخه محرومه شي . اما له نيکمرغه دغه ډوډ د پخوا په څېر عموميت نه لري ،يا داسې پېښې دېرې نه پيښيږي او يا د خلکو شعور او نظر پراخ شوی دی .

**د ملاتړ پیدا کولو په خاطر ودونه:**

ځینې کورنۍ ددې لپاره چې په ګلي او سیمه کې اعتبار لوړ او قوي ملاتړ پیدا کړي نو خپلې لونې معتبر کورنیو ته ورکوي.

**ماخذونه :**

**افغانه ښځه! مدرنیت، اسلام او عنعنه(۸۶،۸۷،۸۸ صفحي)**

**ښځه،کورنۍ او تولنه(۱۹صفحه)**

**د ښځو پر وړاندې د تاوترخوالي له منځه وړلو د قانون د تطبیق پنځم راپور(۱۸-۱۷-۱۶صفحه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لسم څپرکی

**ښځه او تاوتریخوالی:**

تاوتریخوالی هر هغه چلند ، حرکت او وینا ته ویل کیږي چې د لنساني لوړو ارزښتونو سره توپیره ولري او نفي کوونکي یې وګرځوي او د یو شخض د وروسته پاتي توب ، ګوښه کېدل ، سرخوړي ، رواني ناروغي ، ځان وژني او د مړیني یو لامل ګرځي.

**د تاوتریخوالي لاملونه**

دا یو بیخي تجربه شوی او عیني واقعیت دی چې پر ښځو د تاوتریخوالي رټلي پدیده په بیلا بیلو شکلونو یاني د کورنۍ د ناوړه چلندونو هغه چې د کورنۍ یو عړي په ټوګه یې حقوق تر پښو لاندې او شخصیت یې تر سپکاوي لاندې راولي کله مور او پلار او نږدې خپلوانو کور ته او بهر ته له وتلو څخه مخنیوی کول ، لفضي تاوترخوالي چې د سپکو سپورو ویلو ، رټنې ، پیغور ورکوني ، کنځاوو څخه عبارت دي ،رواني او جسمي تاوتریخوالي چې وهل ټکول ، وېښتانو شکول ، د غوږنو او پوزو غوڅول ، شاقه او اجباري چارو ګمارل پکې شامل دي .

ددې هر اړخیزه تاوتریخوالو اساسي لاملونه او سببونه ډیر زیات دي چې یو شمیر یې په دې ډول ښودل کېدای شي:

- د ټولني وروسته والی
- د ناپوهۍ او بې سوادۍ حاکمیت
- د نرواکي
- د ناوړه عنعنو او رواجو واکمني

- د نر او ښځو له خوا د هغوی د طبیعي ، اسلامي ، او قانوني حقوقو څخه اګاهي نه درلودل
- اقتصادي کمزورتیا
- په کورنیو کې د معتصبو غړو شتون
- تر وخت د مخه یا اجباري وادونه
- د نارینه اولاد نه درلودل ښځه،کورنی او ټولنه(۱۹صفحه)

**د تاوتریخوالي ډولونه:**

په عمومي ډول پر ښځو باندې د تاوتریخوالي شکلونو په فزیکي یا جسمي ، روحي یا رواني ، او د ټولنیز تاوتریخوالي په بڼو تطبیقیږي.

**فزیکي تاوتریخوالی:**

د ښځې سره بده رویه کول ، هغه وهل ټکول ، د ویښتانو شوکول ، په لغتو ،څپیړو ،په لرګو وهل.

راټول شوی مالومات ښی چې تر ټولو ناوړه تاوتریخوالی ،فزیکی تاوتریخوالی دی ، او په ځانګړي ډول وهل او ټکول دي چې په ښځو باندې په بیرحمانه توګه تحمیلیږي او ځنې وختونه د ښځو د مړینې سبب هم ګرځي .

**جنسي تاتریخوالی**

جنسي تاتریخوالی په مختلفو ډولونو لکه ناروا جنسي اړیکي ، توهین او بي حرمته جنسي اړیکي ، په زوره عفت پلورلو ته مجبوره کول ، په زوره د جنین غورځول او نورو ډولونو پېښیږي.

سر بیره په دې ، جنسي تیري یوازې د مستقیم جراحاتو یا ټپیکېدو سبب نه کیږي بلکې د رواني زیانونو لکه په ایډز اخته کیدل ، په ناخوښه یا بېّ زور امیدواره کېدل ، همدارنګه جنسي تاوتریخوالی د ښځو پر عزت ، حرمت ، او شان باندې ناوړه اغیزه کوي.

**ژبني او اروایي تاتریخوالی**

يو بل ټيټ شوى تاتريخوالى دى چې د ښځو په وړاندې تر سره کيږي چې لا هغه ته د تاتريخوالي په سترګه نه کتل کيږي ، دا ډول تاتريخوالى د ښځو پر اروا باندې منفي اغيز ښندي.

د رواني تاوتريخوالي ډولونه :ګواښېدل قاريدل ،بد چلند کول بدي ردي ويل ، کنځل ، سپکاوى او د نورو په مخکې سپکول.

**ټولنيز تاتريخوالى**

د ښوونځي او روغتيايي مرکز ته ته له تګ څخه مخنيو ، د پلار کور ته د تګ څخه منع کول ، د ښوونځي په لار کې د يو شمير بد اخلاقو کسانو له خوا تعقيبدل او اشارې کول ، د شاګردانو او ښوونکو خوا د وجود د يوې برخې لګول.

**پايلې**

ښځې په لومړي سر کې ګوښه ييزي کيږي ، د ټولنې سره ناستې ولاړې بيزاريږي ، د ښوونځي له تګه د ډېدې کولو له تحصيله محروميږي او روغتيايي مرکزونو ته د نه مراجعې له کبله روغتيايي حالت زيانمنيږي.

**کورنى تاوتريخوالى او پر دماغو يې اغيزې :**

له ښځو سره د تاوتريخوالي کړنې د ښځو پر روغتيا ، حرمت ، ټولنيز موقف ، د ژوندانه پر وضيعت او هوساينې ناوړه اغيزې لري .

سربيره پردې تاوتريخوالى د هغوى د ودې او پرمختګ حنډ شوى او د هغوى د ګوښې توب سبب ګرځي .

دا تاوتريخوالى رنګه رنګ ستونزې منځ ته راوړي لکه له کوره تښتېدل ، بې برخه ليک او جلا والى ، ټپي کېدل ، معلوليت ، په ځان وژنې لاس پورې کول ، او د مړينې سبب يې کيږي .

**ماخذونه :**

ښځه،کورنۍ او ټولنه(۱۹صفحه)

**يولسم څپرکی**

**د کور دېوالونه دچا لپاره ؟**

ځېنې خلک وايي چې ښځه يا په کور ده يا په ګور ، ښځه بايد هېڅکله هم له کوره څخه ونه وځي دوی وايي چې ښځه بايد د کور په څلورو دېوالونو کې ژوند وکړي ، په دې پراخه نړۍ کې د ښځې په برخه همدا د څلور دېوالونو محوطه ده اوښځه بايد د کور د څلورو ديوالونو په محوطه کې ژوند وکړي .

بايد وويل شي چې دا يوازې تش يو نظر نه دی بلکې ډېرې ژورې ريښې هم لري او په اکثرو ځايونو او په ځانګړی ډول په پښتو قبايلي او اطرافي سيمو کې ورباندې ډېر کلک عمل کېږي تر دې چې که ښځه سخته ناروغه نه شي يا بله کومه سخته اړتيا پيدا نشي نو په کلونو کلونو هم له کور څخه بهر نړۍ نشي ليدلی او دوی داکار اسلام ته منسوبوي او دليل هم دسوره احزاب دا ايت نيسي : ) وقرن فی بيوتکن .)

( ژباړه : ) او قرار ونيسی په خپلو کوروکې ) د ښځه يا په کور ده يا په ګور ، تصور اسلامي نه دی .

اسلام ښځو ته اجازه کړې ده چې په ټولنيز ژوند کې ګډون وکړي خپله هره شرعي اړتيا په پوره اطمينان او ډاډ سره پوره کړي ، بهر ته لاړې شي ، په لمانځه ، غم اوښادۍ کې ګډون وکړي .خو دا هرڅه د اړتيا ترحده .له اړتيا پرته ښځه پخپل کور کې درنه ښکاري.

په کورکې دښځو بند ساتل او په څلورو دېوالونو کې ايسارول غټه جزا ده او دا جزا پاکې مسلمانې بي بي ته نه ، بلکې بد کارې او مجرمې ښځې ته په کار ده تاسې وګورئ کله چې د زنا کار سړي او زنا کارې ښځې لپاره د جزا وروستي احکام نازل شوي نه و ، او الله ج د حکمت له مخې هر کار په تدريجي ډول منع کاوه ، نو د کور په څلو ديوالونو کې دبندولو سزا يې د زنا کارې ښځې لپاره ټاکلې وه او دا د زنا کارې ښځې سزا وه م فرمايي :

(واللاتي ياتين الفاحشة من نساء کم فاستشهدو واعليهن اربعة منکم فان شهدو ا فامسکوهن فی البيوت حتی (يتوفهن الموت او يجعل الله سبيلا)

ژباړه : ( او ستاسي هغه ښځې چې زناکوي نو شاهدان وغواړئ پر دوی څلور تنه له تاسي نه نو که شاهدي وويله دوی نو بندي کړئ تاسي دا ښځې په کور کې تر هغې پورې چې مړې شي يا وګوځوي الله دوی لره کومه لاره .)

نو د کور په څلورو ديوالونو کې بندول د زناکارې ښځې سزا وه چې بيا وروسته ورته الله ج لاره پيدا کړله او د زنا د حد احکام راغلل نو کوم منطق به دا ومني چې الله ج بيا دا سزا پاکې ، شريفې د وقار او درناوي خاوندې ښځې ته ورکړي ؟ ښځه او اسلام(۶۴-۶۳صفحه)

**مونږ په کومه پېرۍ کې اوسېږو :**

مونږ افغانان ډير ښه مسلمانان يو ، هر ډول تکليف چې پيدا شي طبي وي او رواني مونږ ملا ته ځو .

ډاکټر نورالله درمان وايي ماته يوه ښځه راغله فشار يې ډېر چګ وو ، ما ورته سهار دوا ورکړه او ورته مې وويل چې مالګه او تورش شيان به نه خورې ، په خواړو کې به هم يو ځيز بې مالګې خورې .

ماښام يې زامنو راوسته حالت يې ډير خراب و ، فشار مې ورته وکتلو د پرون پرتله فشار يې ډېر جګ شوی و ،درملنه مې وکړه فشار يې لږ ښه شو ، ما يې زوی ته وويل چې سهار خو ډير فشار جګ نه و ، او دوا مې هم ورکړې وه څنګه جګ شو.

يو زوی راته وويل چې سهار ملا ته تللي وه ملا ورته مالګه دم کړې ده او ورته يې ويلي دي چې درې وخته به دا مالګه خورې . داسي پنځه دقيقې وروسته ښځه په حال شوه ما ورته وويل تروري مالګه نه خورې .

زمونږ په کلي کې د يو نفر په ميده کې يوه دانه وه ، ډاکټر ته يې وښوده ډاکټر ورته وويل چې دا عملايت کوو که چېرې پيدا نه شوه خو ښه ده او که چېرې بيا پيدا شوه نو بيا دا سرطان دی .

کورواله يې وويل دا ډاکټر نه پوهيږي مونږه يې غزني ته وړو يو ښه زيارت دی هلته ښه کيږي ، غزني ته لاړ په زيارتو ډېر وګرځېدل يو څه وخت بعد ښځه مړه شوه .

**د ملا رسول لنډۍ د کېسې نه خو به ټول خبر یاست ضرورت نشته چې دلته یې ذکر وکړم .**

**د دې ټولو وجه ناپوهي ده ،که زمونږه ښځو پوهه لرلی نو داسې د خلاصو ملایانو به زمونږ د ښځو د عزت سره لوبې نه کولې .**

زه ټول ملایان نه یادوم ، مونږ الحمدالله ډیر ښه ښه ملایان لرو، خو دا بعضې بې دینه ملایان چې دین صرف پیسې دي د ټولو ملایانو نامه بده وي .

## ماخذونه

کتاب: جنسي لاربنود او لوڅ رازونه ، ليکونکی : تاج الدين عاجز زاوه وال کال ۲۰۰۳

تعليم الاسلام ويب ويب پاڼه/ليکنه: على الله متوکل الرحمن

مولوي فضل الرحمن حنفي

Lomritob ويب پاڼه/ژباړه او راټولونه: عطا محمد مياخېل

کتاب: ښځه او اسلام ليکونکی: الحاج قاضي محمد حسن حقيار کال ۱۳۹۳

زيتون مجله پنځلسم کال اوولسمه ګڼه ليکنه: افتخار احمد همدرد

کتاب: د ښځو د حقوقو څخه دفاع په قران او سنت کې/ ليکونکی: الحافظ مولوي شايق احمد هميم کاکړ کال ۱۳۸۶

www.wikipedia.com/women-right-in-afghanistan

د افغانستان اساسي قانون کال ۱۳۸۲

ښځه په تېرو لس کلو کې ماخذ پاتې دی

انسی ويب پاڼه/ ښځه او ټولنه

تاند ويب پاڼه / ليکنه:فرهاد زهير/د نجونو تعليم

د ښځو د زده کړې پر وړاندې ستونزې ماخذ پاتې دی

د کليد راډيو ويب پاڼه / ښځه او سياست

روهي ويب پاڼه/ ليکنه:ملکه هاشمي

نن ټکی اسیا/لیکوال: عبد الصمد/د ښځو حقوق څو تر ښپو لاندی

خبریال/افغانه نجلۍ ، ټولنه او د هغې له ستونزو نه ډک ژوند

نن ټکی آسیا / ښځه په پښتني ټولنه کې

تاند/ د امیدوارو مېرمنو سره باید څنګه چلند وشي / رفیع الله ستانکزی

د ښځوچارو وزارت/د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو د قانون د تطبیق پنځم راپور کال ۱۳۹۵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**